# اوبه او انرژي

د اوبو او انرژي وزارت خپرووونکی ارگان

یوولسم کال، اتلسمه گڼه، د ۱۴۰۱هـ ش کال لمړی ربع ( حمل ، ثور، جوزا ) چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري







# مطبوعاتي اعلامیه

یکشنبه: ۱۴۰۱/۳/۲۹




**د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند سیند اوبو تړون شتون لري، چې په ۱۳۵۱ هـ.ل کال کې د دواړو هېوادونو د صدراعظمانو له لوري امضاء شوی او دمګړی نافذ دی.**

د دغه تړون د ښهٔ تطبیق په موخه د هلمند سیند اوبو د معاهدې د اوومې او اتمې مادې پر اساس او د تړون لومړی ضمیمه پروتوکول له مخې د اړوند هېوادونو کمیسارانو له خوا د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند اوبو کمیسارانو ګډې نوبتي غونډې له ۱۳۸۳ هـ.ل کال را په دې خوا هر کال دوه ځله په نوبتي شکل په افغانستان او ایران کې ترسره کېږي، چې تر اوسه ۲۵ ګډې ناستې ترسره شوې. ۲٤ مه غونډه یې د ۱۴۰۰ هـ .ش کال د دلوې میاشتې له نهمې تر یولسمې نېټې پورې زمونږ د نیمروز ولایت په زرنج ښار کې ترسره شوه.

د دې ناستو په تسلسل یو متخصص پلاوی د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین؛ ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر "آخند زاده" په مشرۍ، د هلمند اوبو د کمیسارانو په ۲۵ ناسته کې د ګډون لپاره چې د روان کال د جوزا میاشتې له ۲۵ تر ۲۷ نېټې پورې د ګاونډي هېواد ایران په تهران ښار کې ترسره شوه، یاد هېواد ته سفر وکړ. په یاده غونډه کې د هلمند تړون پر کامل تطبیق او د پلې کېدو پر وړاندې یې د خنډونو لېرې کولو باندې بحث وشو. له دې جملې د ۱۴۰۰- ۱۴۰۱ غیر نورمال اوبېز کال ارزونې ترڅنګ، د حقآبې تآمین او د معاهدې مطابق د دریو نقطو پر جوړېدو ټېنګار وشو. افغاني هیئت د افغانستان ملي ګتو مطابق په مذاکراتو کې فعاله ونډه درلوده او د تړون کامل تطبیق په برخه کې له دوست او ګاونډي هېواد ایران سره لازم بحثونه وشول.هیئت د برنامې سره سم د جوزا/غبرګولي میاشتې په ۲۸ نېټه بېرته هېواد ته راستون شو.

---

## اعلامیه‌مطبوعاتی

**معاهده دریای هلمند میان افغانستان و ایران که درسال ۱۳۵۱ ه.ش از سوی صدر اعظم‌های هر دو کشور به امضا رسیده و اکنون نافذ می‌باشد.**

به هدف تطبیق هر چه بهتر این معاهده بر اساس ماده هفتم و هشتم آن و از روی نخستین ضمیمه پروتوکول آن از سوی کمیساران کشور های مربوطه بین افغانستان و ایران از سال ۱۳۸۳ ه.ش بدینسو هرسال دوبار جلسات بین کمیساران مشترک دریای هلمند به شکل نوبتی برگزار می گردد، که تا کنون ۲۵ نشست مشترک برگزار گردیده است. بیست چهارمین جلسه از نهم الی یازدهم دلو سال ۱۴۰۰ هـ. ش در شهر زرنج ولایت نیمروز برگزار شد.

به تسلسل نشستهای قبلی در این نشست یک هیأت متخصص از سوی امارت اسلامی افغانستان تحت رهبری محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر"آخندزاده" معین آب وزارت آب و انرژی برای اشتراک در بیست و پنجمین نشست کمیساران آب هلمند که از تاریخ ۲۵ الی ۲۷ جوزای سال جاری در شهر تهران کشور همسایه ایران برگزار شده بود، به کشور یاد شده سفر نمودند.

در نشست متذکره روی تطبیق کامل معاهده هلمند و رفع چالش‌های فراروی عملی سازی آن بحث صورت گرفت.

از آنجمله در کنار بررسی وضعیت غیر نورمال آبی سال ۱۴۰۰ و ۱۴۰۱ در تامین حقابه مطابق معاهده روی سه نکته تاکید صورت گرفت. هیأت افغانستان مطابق منافع ملی در مذاکرات سهم فعال داشت و در بخش تطبیق کامل معاهده با کشور دوست و همسایه ایران بحث های صورت گرفت.

هیأت مطابق برنامه به تاریخ ۲۸ جوزا دوباره به کشور برگشت.

# د دې گڼې پۀ پاڼو کې


ســـــــرمقاله ---- ۲

امیرالمؤمنین د هېواد په کچه له لویو سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو سره لیدنه وکړه ---- ۳

معین آب وزارت آب و انرژی با رؤسای شرکت تجارتی RED SEA و شرکت تجارتی هوشنگ صالح زاده دیدار کرد ---- ۳

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د Schiller نړیوال انستیتیوت له ارتباطي غړو سره وکتل ---- ۴

برنامه توزیع گندم در مقابل کار در ولسوالی بتی کوت ولایت ننگرهار آغاز گردید ---- ۴

جلسه رهبری وزارت آب وانرژی به منظور حل بعضی مسایل تخنیکی واداری این وزارت برگزار شد ---- ۵

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د زرمت ولسوالي مشرانو ته په پکتیا ولایت کې د اوبو ---- ۵

جلسه هیئت رهبری وزارت آب و انرژی در مورد چندین موضوع مهم اداری و تخنیکی این وزارت برگزار شد ---- ۶

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د آریا افغان خیریه بنسټ لۀ مسؤل او د اقتصادي چارو لۀ یوه کارپوه سره وکتل ---- ۶

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخند زاده د کابل پولي تخنیک پوهنتون کې ---- ۷

در جلسه تخنیکی معینیت آب وزارت آب وانرژی روی وضعیت آبهای زیرزمینی شهر کابل و چندین موضوع مهم دیگر بحث ---- ۷

یک تن از سرمایه گذاران کشور ترکیه علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری در افغانستان ابراز داشت ---- ۸

یک تن از سرمایه گذاران کشور ترکیه علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری در افغانستان ابراز داشت ---- ۸

د کجکي بند د دویم فاز او د شاه او عروس بند پروژې د استملاک ستونزو د حل په موخه ---- ۹

تقدیر از مسئولین ذیربط در مورد مدیریت موثر و توزیع عادلانه آب بند سلما برگزار گردید ---- ۹

د ډېرو سکرو له کان څخه د بریښنا د تولید د پلان د چمتو کولو لومړني غونډه د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست ---- ۱۰

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د نمک آب پروژې د ستونزو د حل په موخه ---- ۱۰

سرپرست وزارت آب و انرژی با نماینده شرکت SUNRAY ENERGY GROUP دیدار کرد ---- ۱۱

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د انرژي او اوبو برخو له رئیسانو سره وکتل ---- ۱۱

شرکت ساختمانی ۷۷ ترکی علاقه‌مند سرمایه‌گذاری در بخش اعمار بندهای آبی برق و برق بادی در افغانستان است ---- ۱۲

د اوبو او انرژي وزارت کې د ارشاد او دعوت پروګرام د بشر د بریالیتوب راز ترسرلیک لاندې ترسره شو ---- ۱۳

مشاور وزارت آب و انرژی معرفی شد ---- ۱۳

د کاپیسا سیندیزې فرعي حوزې پلاوې د اوبو د پروژو د غوره مدیریت په موخه ---- ۱۳

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د SUNRAY ENERGY GROUP شرکت له استازو سره ---- ۱۴

شرکت Afghan Wind Generation Power در همکاری با شرکت چینایی CNNCدر افغانستان در بخش تولید انرژی ---- ۱۴

سرپرست وزارت آب و انرژی به ولایات شرقی به سفر رفته است ---- ۱۵

د چارو د جریان د وضعیت، ستونزو د حل او د کارونو د ښه انسجام لپاره د اوبو او انرژي وزارت ---- ۱۵

د اوبو په لګښت کې سپما او د اوبو سرچینو د ساتنې کلتور ته ---- ۱۶

بررسی و تشخیص منابع آبهای سطحی قابل دسترس برای تامین آب در شهر کابل ---- ۲۰

زلزله ---- ۲۲

مدیریت (منجمنټ) او کاري پلان درلودل ---- ۲۷

د اوبو زیاتېدونکې اړتیا او اهمیت ---- ۲۸

د هلمند اوبو تړون تطبیق پر وړاندې خنډونه ---- ۳۱

ننگرهار ولایت ته د افغانستا د اسلامي امارت د اوبو او انرژی وزیر ملا عبداللطیف منصور کاري سفر ---- ۳۶

نوزدهمین جلسه تخنیکی معینیت آب وزارت آب و انرژی برگزار گردید ---- ۳۷

د اوبو او انرژي وزارت سلاکار په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د دفتر (UNAMA) له سرپرست سره په لیدنه کې ---- ۳۷

د دعوت او ارشاد ریاست له خوا " داسلام او سیاست" تر سرلیک لاندې تربیتي ناسته ترسره شوه ---- ۳۸

رئیس عمومی حوزه دریایی کابل به منظور حفظ و مراقبت از بندهای کلان در ولایت های غزنی و پکتیکا دیدار کرد ---- ۳۸

جلسه رهبری معینیت انرژی به منظور هماهنگی بیشتر ریاست ها در تطبیق امور مربوطه این معینیت برگزار شد ---- ۳۹

د اوبو معینیت د رهبري غونډه د روانوچارو د وضعیت د ارزونې، د ستونزو د هوارولو او د همغږۍ د ښه والي په موخه ---- ۳۹

جلسه هماهنگی و جذب سرمایه‌گذاری در مورد انتقال آب پنجشیر به کابل ---- ۴۰

د هرات ولایت انجیل ویالې استنادي دیوال پروژه پرانیستل شوه ---- ۴۰

د ډېرو له سکرو څخه د بریښنا د تولید کمیټې دویمه غونډه ترسره شوه ---- ۴۱

برای ترمیم و باز سازی کانال عمومی ولایت پروان اقدام صورت خواهد گرفت ---- ۴۱

د پولي تخنیک پوهنتون یو شمېر محصلین چې د خپلو عملي زده کړو دوره ---- ۴۲

بیش از ۲۰ تن محصلان پوهنځی انجنیری هایدرو-تخنیک پوهنتون بلخ دوره آموزش عملی و نظری شان‌را ---- ۴۲

د کاپیسا ولایت په فرعي سیندیزه حوزه کې د ۱۴۰۱ مالي کال د لمړۍ ربعې د کړنو د ارزونې په موخه ---- ۴۳

رئیس حوزه فرعی دریایی پکتیا با بزرگان قومی منطقه کوهسین ولسوالی سید کرم جلسه برگزار نمود ---- ۴۳

رئیس عمومی حوزه دریایی شمال از سربند نهر شاهی بازدید نمود ---- ۴۴

د پنج آمو سندیزې حوزې عمومي رئیس د سویډن کمېټې لۀ رئیس سره د خپل کار پۀ دفتر کې ---- ۴۴

له پنجشیر څخه کابل ته د اوبو د لېږد په پروژه کې د پانګونې د جلبولو په موخه ---- ۴۵

د پکتیا سیندیزې فرعي حوزې ریاست اداري غونډه ترسره شوه ---- ۴۵

د دعوت او ارشاد اصلاحي او روزنیز نصاب غونډه د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین په حضور کې جوړه شوه ---- ۴۶

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د پکتیکا ولایت له مشرانو سره وکتل ---- ۴۷

جلسه هماهنگی بین ادارات ذیربط در مورد حل مشکلات منابع آبی استفاده کنندگان آب برگزار شد ---- ۴۷

د افغانستان د هایدرولوژي ملي کمیټې سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه ---- ۴۸

جلسه به منظور هماهنگی بهتر امور کانال قوش تیپه در ریاست عمومی تنظیم امور آب برگزار شد ---- ۴۸

د پایداري انرژي رئیس د یوه خصوصي شرکت د لمریزي انرژي له پروژې څخه لیدنه وکړه ---- ۴۸



## د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژی وزارت

**مسؤل مدیر:** خواجه فقیر محمد "صدیقی"

**د تحریر هیئت تر نظر لاندې:**

قاری محمد عبدالعزیز "عزیز"

الحاج غلام جیلانی "حق پرست"

انجنیر میرویس "میرزاد"

برکت الله "آریوبی"

انجنیر همت الله "امین زی"

اسدالله "زیرک"

سید عطاالله "صدیقی"

**سموونکی:** بازمحمد" درمل "

**راپور ورکوونکی:** نعمت الله " اخلاقی" او اسدالله "ایوبی"

**عکس اخستونکی:** محمد حکیم "فیض"

**توزیع کوونکی:** سیدعادل "سادات"

**آدرس:** د دارالامان عمومی سرک



**ایمیل پته:** chiefofstaff@mew.gov.af

Info@ mew.gov.af

**د اړیکو شمېره :** ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸

۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸


**درنو لوستوونکو!**

د اوبه او انرژي وزارت مجلې او میاشتنۍ جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ د دې ادراې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

**یادونه:** د اوبه او انرژي فصلنامه کې چې کومې مقالې خپرېږي،پۀ لیکوالانو پورې اړه لري؛هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي.


د مجلې له منځپانګې څخه د مجلې د نوم په یادولو سره هر چاته د مأخذ په توګه د استفاده کولو اجازه ده.

# سرمقاله

## مدیریت آب نیازمند بسیج سازی همگانی است

شرایط موجود تغییرات اقلیم، خشکسالی های پیاپی، استفاده بی رویه آب، ازدیاد نفوس در شهرها ایجاد پارک های صنعتی وغیره مهمترین عوامل است که از هرسو منابع آب را مورد تهدید قرارداده و آن را با کاهش روز افزونی رو برو ساخته است.

همه می دانیم که زندگی بدون آب غیر ممکن بوده و حیات بدون آب بقای خویش را از دست می دهد، برای یک لحظه اگر جهان را بدون آب تصور کنیم به اهمیت حاد بودن این موضوع پی خواهیم برد، و خواهیم دانست که جهان بدون آب یعنی هیچ.

اینجاست که به خوبی درک می کنیم که در قرآن کریم چرا این همه روی اهمیت حیاتی آب تاکید صورت گرفته تا حدی که زندگی تمام موجودات را وابسته به آب بیان کرده است.

در کشور عزیز ما افغانستان هم منابع آبی از اثرات عوامل که در فوق ذکر کردیم بی بهره نبوده و مطالعات نشان می دهد که یخچال ها روز به روز آب می شود و در اکثر ولایات کشور کاریز ها و چشمه ها نیز خشک گردیده یا رو به خشک شدن است.

سطح منابع آب های زیرزمینی در شهرها به صورت سرسام آور در حال پایین رفتن است، این وضعیت به ما این خبر را می رسانند که منابع آب هم تمام شدنی است، اگر به درستی مدیریت نشود به زودی زندگی خود ما و نسل فردای ما را از اثر بی آبی از دست خواهیم داد.

وزارت آب و انرژی به عنوان مهمترین ارگان مسئول در سکتور آب برای مدیریت بهتر منابع آبی تا کنون فعالیت های زیادی از قبیل اعمار بندهای آب، چکدم ها و بندهای کوچک جهت کنترول سیلاب های موسمی، انجام مطالعات و بررسی های همه جانبه منابع آب،تطبیق پروژه های تغذیه مصنوعی، تطبیق پروژه جمع آوری آب باران از بام های ادارات به منظور تغذیه منابع آب زیرزمینی با استفاده از سیستم های ارزان و موثر، جلوگیری از استفاده بی رویه آب، جمع آوری و تحلیل آمار و ارقام ، پیشگویی و تحلیل سیلاب و خشکسالی، حفظ و مراقبت شبکه های هایدروجیالوجیکی، انکشاف و توسعه شبکه های نظارتی و غیره را به انجام رسانیده است.

این وزارت در آینده هم پلان های کوتاه مدت و طولانی مدت را برای مدیریت منابع آبی دارد و برای مدیریت بهتر منابع آب تمام تلاش خویش را به کار خواهد گرفت، اما با در نظرداشت شرایط موجود این تلاش ها کافی نبوده و نیاز است تا تمام مردم یعنی هرکس به اندازه توان خویش در مدیریت و صرفه جویی آب سهیم شوند.

کاهش روز افزون منابع آب و پایین رفتن بیش از حد سطح آبهای زیرزمینی این را نشان می دهد که ما با یک بحران جدی کم آبی رو برو هستیم و در آینده این بحران شدت بیشتر خواهد یافت، برای مدیریت این بحران نیاز است تا همه باهم دست به کار شویم.

یکی از راه حل های که در مدیریت این بحران می تواند نقش به سزای داشته باشد این است که شیوه صرفه جویی آب باید در نظام تربیتی گنجانیده شود. آموزش اهمیت مدیریت وصرفه جویی آب در خانواده ها آغاز گردد و همچنان در مکاتب، مدارس و پوهنتون ها نیز باید در مورد اهمیت این موضوع برای دانشجویان آگاهی داده شود.

ملا امامان مساجد، مبلغین دینی اساتید پوهنتون ها و معلمین می توانند مهمترین نقش را در این راستا ایفا نمایند، فرهنگ صرفه جویی آب باید در نظام تربیتی ما نهادینه شود، تا همگی در قبال آن خود را مسئول دانسته در عملی سازی آن سهیم شوند.

یکی از عمل های که دین مقدس اسلام برای پرهیز از آن بیشترین تاکید را کرده است موضوع اسراف می باشد، به همین خاطر وظیفه دینی ما است که در مصرف ماده حیاتی و ارزشمند آب توجه جدی نموده و از اسراف آن جلوگیری به عمل آوریم

این را باید به یاد داشته باشیم که با بستن شیر آب به هنگام مسواک زدن دندان می توانیم یک انسان دیگر را از تشنگی نجات بخشیم، یا با صرفه جویی یک لیتر آب در هنگام هربار مصرف در روز از ضایع شدن ده ها لیتر آب جلوگیری می نماییم.

مامی توانیم با جمع آوری آب برف و باران بام های خویش در یک چاه در داخل احاطه خانه مقدار زیاد از آب را دوباره به زمین هدیه کنیم و برای نسل فردای خویش به میراث بگذاریم.

این نکته باید همیشه به یاد ما باشد که آب بهترین میراث ما به نسل فردای ما می باشد و نگهداری از این میراث ارزشمند وظیفه ایمانی و انسانی همه ما است.

اخلاقي

# امیرالمؤمنین د هېواد په کچه له لویو سوداګرو، صنعت‌کارانو او پانګوالو سره لیدنه وکړه



امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة‌الله اخوندزاده تېره ورځ کندهار کې د سوداګرۍ او پانګونې او د صنایعو او معدنونو خونو له ګډ پلاوي سره، چې د هېواد په کچه سوداګر، صنعت‌کاران او پانګوال پکې شامل و، لیدنه وکړه.
نوموړي په دغه لیدنه کې وویل، چې ۱.۱ تل د سوداګرو، صنعت‌کارانو او پانګوالو ملاتړ کړی او راتلونکي کې به هم ځانګړې پاملرنه ورته کوي.
عالیقدر امیرالمؤمنین له یاد پلاوي وغوښتل، چې د هېواد د اقتصادي خپلواکۍ او پرمختګ په برخه کې رغنده ګامونه واخلي او هېواد کې د ننه پانګونه زیاته کړي؛ ترڅو خلکو ته په ښه ډول کاري زمینه برابره شي.
نوموړي ټول سوداګر، صنعت‌کاران او پانګوال د هېواد اقتصادي ځواکونه یاد کړل.
په دغه لیدنه کې د اوبو او انرژي سرپرست وزیر ښاغلی ملا عبدالطیف منصور، د چارو اداري لوی رییس ښاغلی مولوي احمد جان احمدي او د کندهار والي ښاغلی حاجي محمد یوسف وفا هم حضور درلود.

# معین آب وزارت آب و انرژی با رؤسای شرکت تجارتی RED SEA و شرکت تجارتی هوشنگ صالح زاده دیدار کرد



محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر "آخندزاده " معین آب وزارت آب وانرژی در دفتر کار خویش با محترم حاجی عارف الله ژوندون رئیس شرکت RED SEA و محترم عبدالله هوشنگ صالح زاده رئیس شرکت تجارتی هوشنگ صالح زاده دیدار کرد.
در این دیدار رؤسای شرکت های متذکره علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری در پروژه های آب و انرژی ابراز داشته علاوه کرد که در قدم اول آنها تصمیم دارند روی تطبیق پروژه تولید انرژی از منابع زغال سنگ به ظرفیت ۵۰ میگاوات در یکی از ولایات افغانستان سرمایه گذاری خویش را آغاز نموده پس از آن روی پروژه های بیشتری سرمایه گذاری کنند.
محترم معین آب از علاقه مندی اشخاص متذکره به سرمایه گذاری در پروژه های مدیریت آب و تولید انرژی استقبال نموده به آنها از انجام هرگونه همکاری با در نظرداشت منافع ملی اطمینان داد.
همچنان معین آب روی عملی سازی این همکاری های مشترک تاکید ورزیده یادآور شد که رهبری وزارت آب و انرژی از سهم گیری سکتور های خصوصی در تطبیق پروژه های این وزارت با درنظرداشت قانون و طرزالعمل های این وزارت استقبال می نمایند.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د Schiller نړیوال انستیتوت لهٔ ارتباطي غړو سره وکتل



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د خپل کار پهٔ دفتر کې د Schiller نړیوال انستیتوت لهٔ ارتباطي غړو سره ولیدل.

پهٔ دغه لیدنه کې، د یاد انستیتوت ارتباطي غړو په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د تولید پهٔ برخه کې د سترو شرکتونو د پانګونې د جلبولو ژمنه وکړه .

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د یاد انستیتوت لهٔ ارتباطي غړو سره پهٔ کتنه کې پهٔ هېواد کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د تولید پهٔ برخه کې د زمینې برابرولو ژمنه وکړه او زیاته یې کړه" پهٔ افغانستان کې د اسلامي امارت پهٔ واکمنیدو سره، پهٔ ټول هېواد کې امنیت ټینګ شوی؛ او مونږ لهٔ ټولو هغه کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره، چې غواړي پهٔ افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د تولید پهٔ برخه کې پانګونه وکړي، د هر راز همکاري ژمنه کوو" .

د یادولو وړ ده، چې د Schiller نړیوال انستیتوت ارتباطي غړو د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د تولید پهٔ برخه کې د شرکتونو د پانګونې د جلبولو پهٔ موخه خپله وړاندیز شوې طرحه د اوبو او انرژي وزارت لهٔ سرپرست وزیر سره شریکه کړه.

---

# برنامه توزیع گندم در مقابل کار در ولسوالی بتی کوت ولایت ننگرهار آغاز گردید



در این برنامه، محترم الحاج سید فضل احد"هاشمی"، رئیس حوزه دریایی ولایت ننگرهار معلومات همه جانبه پیرامون این برنامه ارائه کرد و در مورد شفافیت کار به مردم توصیه‌های لازم داد.

در همین حال، در این برنامه ولسوال ولسوالی بتی کوت، محترم سید محمد صادق"هاشمی"، آمر تنظیم آب حوزه دریایی و محترم قاری صادق، معاون زراعت و مالداری نیز پیرامون این برنامه صحبت نمودند.

در این برنامه برای ٤٢٠ تن به مدت یک ماه زمینه کار مساعد می‌گردد و در بدل کار روزانه شان ۱۰ کیلو گندم داده می‌شود.

# جلسه رهبری وزارت آب وانرژی به منظور حل بعضی مسایل تخنیکی واداری این وزارت برگزار شد

این جلسه تحت رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب وانرژی با حضور معینان و روسای عمومی این وزارت برگزار گردید.

در این جلسه روی موضوعات مهم تخنیکی و اداری به ویژه تصامیم لازم به منظور تسریع و تقویت روند امور تخنیکی، مسلکی و اداری مربوط بخش آب و انرژی وزارت آب و انرژی اتخاذ گردید.

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی پس از بررسی گزارش موضوعات مطرح در جلسه توسط مسئولین آن، فیصله های لازم را بیان نموده جهت حل و فصل آنها هدایات ضروری را به مسئولین مربوطه ارایه کرد.



# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د زرمت ولسوالي مشرانو ته پهٔ پکتیا ولایت کې د اوبو بندونو د جوړولو د پروژو د پلې کیدو ډاډ ورکړ

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور، د انرژي معین ښاغلي عارف الله عارف او د دې وزارت د مطبوعاتو او نشراتو رئیس الحاج غلام جیلاني حق پرست پهٔ ملتیا پهٔ کابل کې میشت د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي لهٔ مشرانو سره وکتل.

پهٔ دغه لیدنه کې، ښاغلي الحاج زیرې‌گل نعماني پهٔ کابل کې میشت د زرمت ولسوالي یو تن قومي مشر د اوبو او انرژي وزرات سرپرست وزیر ته ښهٔ راغلاست وویل او د هغه ولایت د خلکو د ستونزو او اړتیاو پهٔ هکله خبرې وکړې.

د دې کتنې پهٔ دوام کې، دوو تنو نورو قومي مشرانو ښاغلي ډاکټر نورمحمد غفوري او ښاغلي ډاکټر خوشحال د زرمت ولسوالي د خلکو د ستونزو پهٔ هکله خبرې وکړې؛ او خپل وړاندیزونه او غوښتنې یې د اوبو او انرژي وزارت لهٔ سرپرست وزیر سره شریکې کړې.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي منصور پهٔ خپلو خبرو کې د زرمت ولسوالي د خلکو سرښندنې وستاېلې او د دوی فداکارې او سرښندنې یې د قدر وړ و بللې.



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د پکتیا ولایت مشرانو ته ډاډ ورکړ، چې د اوبو او انرژي وزارت لهٔ خوا به د دوی ستونزو او اړتیاو ته رسیدگي وشي.

همدا راز د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف د پکتیا ولایت مشرانو ته د انرژي پروژو د تولید او د برېښنا رسولو پروژو ډاډ ورکړ او خلکو ته پهٔ رښتیني ډول د خدمت وړاندې کول یې د اسلامي امارت د مسؤلینو تر ټولو مهمه دنده وبلله،

د یادولو وړ ده، چې پهٔ دې لیدنه کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي ډېرى مشرانو حضور در لود.

# جلسه هیئت رهبری وزارت آب و انرژی در مورد چندین موضوع مهم اداری و تخنیکی این وزارت برگزار شد



این جلسه تحت رهبری محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با حضور محترم مولوی عارف الله عارف معین انرژی، محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده معین آب، روسا و شماری از مسئولین وزارت آب و انرژی برگزار گردید.

در این جلسه پیرامون موضوعات مهم در بخش های تطبیق پروژه های انرژی، اقدامات لازم جهت حفظ و مراقبت از تجهیزات و تاسیسات آب و انرژی در ساحات و شماری دیگری از مسایل مهم تخنیکی و اداری صحبت به عمل آمد.

سرپرست وزارت آب وانرژی پس از بررسی موضوعات مطرح در جلسه جهت اجراآت آن تصامیم لازم را اتخاذ و هدایات ضروری را به مسئولین مربوطه ارایه کرد.

# د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د آریا افغان خیریه بنسټ له مسؤل او د اقتصادي چارو له یوه کارپوه سره وکتل



د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف د خپل کار په دفتر کې د آریا افغان خیریه بنسټ له مسؤل ښاغلي انجنیر انس او د کابل پوهنتون د پخواني استاد او د اقتصادي چارو کارپوه ښاغلي شیر آغا بیانزي سره وکتل.

په دغه لیدنه کې، په هیواد کې د انرژي د پراختیا، له لارې د هېواد د اقتصادي ودې او په افغانستان کې د انرژي د تولید د پراختیا په برخه کې د خصوصي سکتور د پانگونې پر ارزښت بحث او د نظر تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف په افغانستان کې د انرژي د تولید په برخه کې د شته سرچینو او ظرفیتونو په هکله خبرې وکړې او د انرژي سکتور په برخه کې یې د هر ډول همکاري څخه هر کلی وکړ، او ټینگار یې وکړ چې گډه همکاري باید په عملي ډول پیل شي.

په ورته وخت کې، ښاغلي بیانزي د ملي او نړیوالو خصوصي سکتورونو د پانگونې د اهمیت او د برېښنا د پراختیا په برخه کې د هغې د رول په اړه خبرې وکړې او د اوبو او انرژي وزارت معین ته یې د پانگوالو د جلبولو په برخه کې د همکاري ډاډ ورکړ.

# د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخند زاده د کابل پولي تخنیک پوهنتون کې د پایداره پراختیایي موخو په اړه د سیمه ایز المپیاډ په پرانیست غونډه کې گډون وکړ



په پیل کې، د کابل پولي تخنیک پوهنتون عمومي رئیس ښاغلي پوهنوال انجنیر عبدالرشید اقبال، د لوړو زده کړو وزارت علمي معین ښاغلي لطف الله خیرخواه او د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده څخه په دې غونډه کې د گډون له امله مننه وکړه.

هغه د یاد المپیاډ ترسره کول د نویو استعداونو د ودې او په علمي او اکاډمیکو مرکزونو کې د کدرونو د جلب او جذب لپاره یو ښهٔ فرصت وباله او د منځنۍ آسیا د پوهنتونونو ترمنځ یې د المپیاډ ترسره کول د سیمې لپاره گټور وباله.

وروسته د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده د دې المپیاډ ترسره کولو له امله د قزاق جرمن پوهنتون څخه مننه وکړه او د کابل پولي تخنیک پوهنتون د دغه کار ستاینه یې وکړه، چې په ملي سطحه د داسې پروگرامونو کوربتوب کوي او زیاته یې کړه، چې د اوبو او انرژۍ وزارت په دې برخه کې هیڅ ډول همکاري نه سپموي.

د دې کنفرانس په دوام کې، هغه مختصصین چې د بیلابیلو هېوادونو څخه په آنلاین ډول وصل وو، خبرې وکړې.

# در جلسه تخنیکی معینیت آب وزارت آب وانرژی روی وضعیت آبهای زیرزمینی شهر کابل و چندین موضوع مهم دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم اتخاذ گردید.



این جلسه تحت رهبری محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخنذاده معین آب وزارت آب وانرژی با حضور تمام روسای مرکزی، آمرین، انجنیران و سایر مسؤلین تخنیکی سکتور آب وزارت برگزار گردید.

در این جلسه روی موضوعات مهم و ضروری از قبیل: شریک سازی معلومات در مورد آغاز پروژه های که با همکاری مشترک موسسه GIZ از طریق کمک های بشری قرار است تطبیق گردد، بررسی وضعیت آبهای زیرزمینی کابل و عملی سازی راه حل های مناسب جهت مدیریت آن و شماری دیگری از موضوعات مرتبط به مدیریت آب در کشور بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این جلسه پرزنتیشن وضعیت منابع آبهای زیرزمینی شهر کابل توسط انجنیر عزیزالرحمن عزیز رئیس منابع آبهای زیرزمینی ارائه شده چندین سناریو جهت مدیریت آن نیز با اشتراک کنندگان جلسه شریک گردید.

در ادامه شماری از روسا و کارمندان هرکدام به نوبه خویش وضعیت آبهای زیرزمینی شهر کابل را قابل نگرانی بیان نموده جهت مدیریت آن طرح ها و نظریه های شان را در جلسه اظهار داشتند.

محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخنذاده معین آب وزارت آب و انرژی پس از بررسی موضوعات به صورت همه جانبه، با اتخاذ تصامیم لازم به تسریع عملی سازی اقدامات در راستای مدیریت آب شهر کابل تاکید ورزید.

# یک تن از سرمایه گذاران کشور ترکیه علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری در افغانستان ابراز داشت

محترم مولوی عارف الله عارف معین انرژی وزارت آب و انرژی در دفتر کاری خویش با نماینده شرکت Emin Electricity کشور ترکیه دیدار کرد.

در این دیدار نمایندهشرکت متذکره علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری روی پروژه های تولید انرژی در افغانستان ابراز داشته خواستار همکاری رهبری وزارت آب و انرژی در راستای فراهم سازی زمینه این سرمایه گذاری گردید.

محترم عارف معین انرژی وزارت از علاقه مندیشرکت یاد شده بهسرمایه گذاری در افغانستان استقبال نموده از مساعد سازی زمینهسرمایه گذاری در بخش تولید انرژی اطمینان داد.



در اخیر هر دو جانب به هماهنگی بیشتر و شریک سازی معلومات جهت حصول آشنایی و آغاز همکاری های مشترک تاکید ورزیدند.

---

# د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د روسیې هېواد د انرژي گروپ دشرکتونو لهٔ رئیس سره وکتل

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف د خپل کار پهٔ دفتر کې د روسیې هېواد د انرژي گروپ دشرکتونو له رئیس ښاغلي خمیس مخیانوف سره ولیدل.

پهٔ دغه لیدنه کې، پهٔ افغانستان کې د انرژي د تولید پهٔ برخه کې د پانگونې پهٔ هکله بحث او د نظر تبادله وشوه.

د روسیې هېواد د انرژي گروپ دشرکتونو رئیس ښاغلي مخیانوف د ډېرو لهٔ سکرو څخه د انرژي د تولید او د انرژي د تولید نورو سرچینو باندې د پانگونې لپاره لیوالتیا څرگنده کړه.

ښاغلي مولوي عارف الله عارف پهٔ دغه لیدنه کې په افغانستان کې د روسیې د انرژيشرکتونو د پانگونې لهٔ لیوالتیا څخه هرکلی وکړ؛ او پر لا زیاتې همغږۍ او د عملي اقداماتو د چټکتیا لپاره یې پهٔ گډه همکارۍ باندې ټینگار وکړ.



د یادولو وړ ده، چې پهٔ افغانستان کې د انرژي د تولید لپاره د پانگونې راجلبول د اوبو او انرژي وزارت لهٔ لومړیتوبونو څخه ده؛ او پهٔ دې وروستیو کې د اوبو او انرژي وزارت د رهبرۍ لهٔ خوا گڼ شمېر پروگرامونه د ملي او نړیوالو پانگوالو د جلبولو لپاره پهٔ لاره اچول شوي دي.

# د کجکي بند د دویم فاز او د شاه او عروس بند پروژې د استملاک ستونزو د حل په موخه د بهرنیو چارو وزارت له مسؤلینو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه.

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده په حضور کې د هلمند ولایت د کجکي بند پروژې د دویم فاز او د شاه او عروس بند پروژې د استملاک ستونزو د حل په موخه د همغږۍ غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د بهرنیو چارو وزارت د استملاک عمومي رئیس ښاغلي حارث اخترزاده او د دواړو وزارتونو د یو شمېر نورو رئیسانو په گډون ترسره شوه.

په دې غونډه کې د اوبو معین په حضور کې د پروژو د استملاک د وضعیت په اړه بشپړ راپور وړاندې شو، چې د ستونزو د حل په موخه یې خبرې وکړې.

د اوبو او انرژی وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده د مسؤلینو د راپور له اوریدو وروسته د کجکي بند د پروژې د استملاک بهیر پر چټکتیا باندې ټینگار وکړ، او یادونه یی وکړه، چې یاده موضوع باید د ریاست الوزرا له محترم مقام سره شریکه شي، ترڅو د دې د حل لپاره اړین



اقدامات وکړي او د محترم رئیس الوزرا له لارښوونو سره سم اقدامات ترسره شي.

د یادولو وړ ده، چې د کجکي بند د دویم فاز کار په چټکی سره روان دی چې په نږدې راتلونکي کې به په بشپړ ډول گټې اخیستنې ته وسپارل شي، د دې پروژې په بشپړیدو سره به سل میگاواټه بریښنا نوې تولید شي او د کجکي د بریښنا بند ټول تولیدي ظرفیت به ۱۵۱ میگاواټو ته لوړ شي.

# تقدیر از مسئولین ذیربط در مورد مدیریت موثر و توزیع عادلانه آب بند سلما برگزار گردید

محفل تقدیر ازمسؤلین ذیربط درمورد مدیریت مؤثر وتوزیع عادلانه آب بند سلما در فصل بهار سال ۱۴۰۱ هجری شمسی با حضور داشت شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار والی ولایت هرات ، محترم مولوی سـردار ولی (مزمل) رئیس حوزه فرعی دریایی هریرود پائینی هرات ، محترم مولوی عبدالسلام (مستوفی اغا) رئیس عمومی حوزه دریایی هریرود مرغاب، نماینده های ولسوالی های هرات ،رؤسای انجمن های استفاده کننده گان آب ولایت هرات و علما کرام تدویر یافت.

دراین محفل پیرامون اهمیت آب، استفاده موثر از آب، جلوگیری از ضایعات آب، حفظ آب‌های زیرزمینی، همکاری ولسوالی‌های مسیر بند سلما و مستفیدین آب با ادارات ذیربط صحبت شد.




در آخر این برنامه از محترم مولانا نوراحمد اسلام جار، والی ولایت هرات، محترم مولوی سردار ولی مزمل، رئیس حوزه فرعی دریایی هریرود- مرغاب، مولوی عبدالسلام مستوفی آغا، رئیس عمومی حوزه دریایی هریرود- مرغاب ومحترم انجنیر جلیل احمد محمدی آمر تنظیم آب حوزه فرعی دریایی هریرود پائینی هرات تقدیر به عمل آمد.

# د ډېرو لهٔ سکرو څخه د برېښنا د تولید د پلان د چمتو کولو لومړني غونډه د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر پهٔ شتون کې ترسره شوه



دا ناسته د افغانستان اسلامی امارت د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور،د سوداگرۍ او پانگونې خونې د سرپرست ښاغلي محمد یونس مومند او د کانونو او صنایعو خونې رئیس ښاغلي شېرباز کمین زاده پهٔ شتون کې ترسره شوه.

پهٔ دغه ناسته کې، پهٔ هېواد کې د ډېرو لهٔ سکرو څخه د برېښنا د تولید لپاره د یوې گډې کمېټې د جوړېدو پر لومړنیو مسایلو او لازمو تیاریو بحث او د نظر تبادله وشوه.

د غونډې گډونوالو پهٔ هېواد کې د ډېرو لهٔ سکرو څخه د برېښنا تولید یوه اړتیا وبلله او هر یو په دې برخه کې د گډې کمېټې د جوړولو، تخنیکي مطالعاتو او پهٔ دې برخه کې د عملي اقداماتو لپاره د مشخص پلان د چمتو کولو پهٔ اړه خپل نظرونه څرگند کړل.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر پهٔ هېواد کې د ډېرو لهٔ سکرو څخه د برېښنا تولید پهٔ هېواد کې د ځان بسیاینې پهٔ لور یو مثبت گام وباله او د دغه کار عملي کېدل یې د خصوصي سکتور او د افغانستان د خلکو د پیاوړتیا لپاره مهم وبلل.

پهٔ پای کې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر رامخته کېدو باندې ټینگار وکړ او د چارو د چټکتیا لپاره یې لازمې لارښوونې وکړې.

# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د نمک آب پروژې د ستونزو د حل پهٔ موخه د اوبو او انرژي وزارت لهٔ اړوندو رییسانو او تخنیکي انجنیرانو سره ناسته ترسره کړه.



د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر اخندزاده د تخار ولایت د (نمک آب) پروژې د ستونزو د حل پهٔ موخه د دې وزارت له تخنیکي انجینرانو سره وکتل.

پهٔ دې غونډه کې د وزارت اړوندو رئیسانو او تخنیکی انجینرانو د نمک آب د پروژې د وضعیت راپور د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ته وړاندې کړ.

د غونډې پهٔ پای کې پرېکړه وشوه، چې د پروژې لهٔ پیل څخه تر پایه دې د پروژې ټول اسناد وڅېړل شي او د پروژې د زیات وخت د ارزونې لپاره دې تخنیکي کمیته وټاکل شي. د پروژې د زیاتو کارونو د ارزونې پهٔ موخه به یو تخنیکي تیم د تخار د (نمک آب) پروژې ته د سفر پهٔ موخه وگمارل شي ترڅو د پروژې مسایل وڅیړي او راپور یې د اوبو معینیت له مقام سره شریک کړي.

# سرپرست وزارت آب و انرژی با نماینده شرکت SUNRAY ENERGY GROUP دیدار کرد



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کاری خویش با محترم عبدالکریم کبیر نماینده شرکت SUNRAY ENERGY GROUP دیدار نموده پیرامون سرمایه گذاری روی پروژه های انکشاف انرژی در کشور بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار نماینده شرکت متذکره علاقه مندی خویش را در سرمایه گذاری روی پروژه های تولید انرژی از منابع آبی، آفتابی و بادی در افغانستان ابرازداشته خواستار همکاری مقام رهبری وزارت آب و انرژی در این زمینه گردید.

آقای منصور سرپرست وزارت آب و انرژی به نماینده شرکت SUNRAY ENERGY GROUP از انجام همکاری خویش اطمینان داد.

در اخیر این دیدار هر دو طرف روی برگزاری نشست های بیشتر به منظور ایجاد هماهنگی لازم تاکید نموده سرمایه گذاری روی تولید انرژی در کشور را در رشد و توسعه افغانستان ضروری خواندند.

# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د اوبو او انرژي برخو لهٔ رئیسانو سره وکتل



د اوبو او انرژی وزارت د اوبو معین ښاغلی انجنیر مجیب الرحمن عمر د یوې غونډې پهٔ ترڅ کې د اوبو او انرژی وزارت لهٔ ټولو رئیسانو سره وکتل او هغوی ته یې د کوچنی اختر مبارکی وویله او د اوبو د مدیریت او د انرژی د تولید د پروژو په هکله یې بحث او خبرې وکړې.

پهٔ دې کتنه کې ښاغلي عمر د روژې د مبارکې میاشتې اهمیت ته پهٔ اشارې سره د وزارت رئیسان او کارمندان وهڅول چې د خلکو او هېواد پهٔ خدمت کې لا زیاتې هڅې وکړي. ښاغلي معین پهٔ هېواد کې د اوبو مدیریت یو مهم مسئولیت وباله او پر ټولو کارکوونکو یې غږ وکړ چې د دې مهمې دندې د ترسره کولو لپاره پهٔ پوره اخلاص او جدیت سره کار وکړي.

# شرکت ساختمانی ۷۷ ترکی علاقه‌مند سرمایه‌گذاری در بخش اعمار بندهای آبی برق و برق بادی در افغانستان است



محترم مولوی عارف الله"عارف"، معین انرژی وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم براک، معاون شرکت ساختمانی ۷۷ ترکی دیدار نمود.

در این دیدار، آقای براک معاون شرکت متذکره علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری خویش را در دیدار با معین انرژی وزارت آب و انرژی در بخش اعمار بندهای آبی برق و تولید برق بادی در کشور ابراز نمود.

معین انرژی وزارت آب و انرژی در این دیدار، با یاد آوری امنیت سرتاسری در کشور اظهار نموده گفت"ما برای تمام شرکت های داخلی و خارجی که علاقه‌مند سرمایه‌گذاری در بخش تولید انرژی در کشور هستند، زمینه سرمایه‌گذاری را مهیا می‌نماییم و در این راستا از هیچ نوع همکاری دریغ نمی نماییم."

گفتنی است که پیش از این نیز چندین‌شرکت چینایی و ترکی در دیدار با معین انرژی وزارت آب و انرژی علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری خویش را در بخش تولید انرژی در کشور ابراز نموده اند.

## د اوبو او انرژي وزارت کې د دعوت او ارشاد پروګرام د بشر د بریالیتوب راز ترسرلیک لاندې ترسره شو



دا پروګرام چې د اوبو او انرژي وزارت د دعوت او ارشاد د رئیس ښاغلي مولوي ګل الرحمن عارف په ګډون کې ترسره شوه، چې شاه خوا د وزارت ۱۰۰ تنو کارمندانو پکې ګډون درلود.

د اوبو او انرژي وزارت د دعوت او ارشاد رئیس ښاغلي مولوي ګل الرحمن عارف په دې پروګرام کې کارمندان اخلاص، ایمانداري او د تقوا رعایتولو ته وبلل او د انسان د بریالیتوب یواځنی راز یې اسلامي لارښوونې وګڼلې.

ښاغلي عارف قرآن کریم د بشر د لارښود او خلاصون کتاب وباله او د اسلام مقدس دین ښوونه یې د ټولو مسلمانانو لپاره لازمه وګڼله.

د یادولو وړ ده، چې دا پروګرام به په دوامداره توګه په راتلونکي کې هم دوام ومومي، ترڅو د وزارت ټول کارمندان وکولای شي ور څخه ګټه پورته کړي.

# مشاور وزارت آب و انرژی معرفی شد

محترم داکتر غلام فاروق "اعظم" به حیث مشاور وزارت آب و انرژی طی یک جلسه رسمی در حالی که معینان آب و انرژی وزارت آب و انرژی و رؤسای مرکزی وزارت نیز حضور داشتند از سوی محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی به کارمندان وزارت معرفی گردید.

محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی در جلسه معرفی مشاور این وزارت، آنها را مجاهد نستوه و شخصیت بزرگ علمی بیان نموده برای شان در امور محوله آرزوی موفقیت نمودند.

قابل یاد آوری است، که محترم داکتر غلام فاروق "اعظم" در ناحیه اول شهر کندهار چشم به جهان گشوده و تحصیلات خویش را تا سطح دوکتورا در بخش انکشاف منابع آب در آمریکا و انگلستان به پایان رسانیده است.



محترم داکتر غلام فاروق "اعظم" در دوران حکومت مجاهدین به حیث وزیر تعلیم و تربیه و وزیر مهاجرین و عودت کنندگان ایفای وظیفه نموده است.

محترم داکتر غلام فاروق "اعظم" اکنون به پیشنهاد وزارت آب و انرژی به حیث مشاور این وزارت و به منظوری ریاست الوزرا ، امروز طی جلسه رسمی به کارمندان وزارت معرفی گردید.

# د کاپیسا سینديزې فرعي حوزې پلاوي د اوبو د پروژو د غوره مدیریت په موخه تگاب ولسوالي ته سفر وکړ

دغه سفر د کاپیسا ولایت په تگاب ولسوالی کې د اوبو د پروژو د ښهٔ مدیریت او د پروژو د لومړیتوب او ښهٔ تطبیق په موخه ترسره شو

د تگاب ولسوالي د سینديزې فرعي حوزې رییس انجنیر کاوه خروش او ورسره مل پلاوي ترمنځ گډه ناسته د تگاب ولسوالي د ولسوال ښاغلي مولوي مرتضی په دفتر کې ترسره شوه.

په دې دوه اړخیزه ناسته کې د اوبو د سرچینو د هراړخیزه او دوامداره مدیریت په ځانگړي ډول د تگاب د هایدرو میترولوژي سټېشن د ساتنې په اړه چې د تگاب د سیند پر سر د اوبو او انرژي وزارت لهٔ خوا نصب شوی. خبرې وشوې. او د تگاب ولسوالي حیاتي پروژو ته دې



لومړیتوب ورکول شي: لکه د سورپل تگاب سولر پمپ پروژې تخنیکي سروې، د میره خیلو د کورد کیان کانال استنادي دیوال، د بدرآب د اوبو کانال. د سربند میره خېل پروژه، د تولاد کانال څخه پورته د جرکوره د استنادي دیوال پروژې سروې او د اړتیا وړ نورو مواردو په اړه خبرې وشوې.

د سینديزې فرعي ځانگې رییس د تگاب د هایدرومیترولوژي سټېشن څخه لیدنه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د گڅ او بابلر د اوبو په لوړوالی کې توپیر لهٔ منځه یوسي او د یاد شوي سټیشن سینسرانو څخه هم لیدنه وکړه.

# د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د SUNRAY ENERGY GROUPشرکت لهٔ استازو سره لیدنه ترسره کړه



د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف د خپل کار پهٔ دفتر کې د SUNRAY ENERGY GROUP شرکت لهٔ استازو سره لیدنه ترسره کړه او پهٔ هېواد کې یې د انرژي د پراختیایي پروژو د پانګونې پهٔ هکله بحث او د نظر تبادله وکړه.

پهٔ دغه لیدنه کې،د یادشرکت استازو پهٔ افغانستان کې د انرژي د تولید پهٔ پروژو کې لهٔ پانګونې سره لېوالتیا څرګنده کړه؛ او پهٔ هېواد کې یې د انرژي د تولید او پروژو د تطبیق لپاره د زمینې پهٔ برابرولو کې د اوبو او انرژي وزارت د رهبري څخه د همکاري غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف پهٔ افغانستان کې د پانګونې پهٔ برخه کې د دغه شرکت د لېوالتیا هرکلی وکړ؛ او زیاته یې کړه، چې پهٔ هېواد کې د انرژي د سکتور پراختیا د خصوصي سکتور همکاري او پانګونې ته اړتیا لري.

ښاغلي عارف د یادشرکت استازو ته د پانګونې د زمینې پهٔ برابرولو کې د اوبو او انرژي وزارت د رهبري د همکاري ډاډ ورکړ او د عملي اقداماتو د پیل لپاره یې پر لا همغږي باندې ټینګار وکړ.

# شرکت Afghan Wind Generation Power در همکاری باشرکت چینایی CNNC در افغانستان در بخش تولید انرژی سرمایه‌گذاری می‌نماید



محترم مولوی عارف الله"عارف"، معین انرژی وزارت آب و انرژی قبل از ظهر امروز در دفتر کار خویش با محترم راشدخان نماینده شرکت Afghan Wind generation Powerدیدار نمودند.

در این دیدار، نماینده شرکت متذکره علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری خویش را در بخش تولید انرژی در کشور ابراز کرد. وی افزود، که در همکاری باشرکت چینایی CNNCدر بخش تولید ۴۵۰ میگاوات انرژی در کشور سرمایه‌گذاری می‌نماید.

محترم مولوی عارف الله "عارف"، معین انرژی وزارت آب و انرژی از سرمایه‌گذاری شرکت متذکره در بخش تولید انرژی در کشور استقبال نموده افزود" اکنون وقت آن فرارسیده است که در آبادی کشور همه باهم به گونه مشترک کار نماییم و ما از تمام شرکت‌های داخلی و خارجی دعوت می‌نماییم که در بخش تولید انرژی در کشورسرمایه‌گذاری نمایند و ما آماده هر نوع همکاری با آنها هستیم".

معین انرژی وزارت آب و انرژی در دیدار با نماینده شرکت متذکره افزود، که در این اواخر شرکت‌های داخلی و خارجی علاقه‌مندی شان را در بخش تولید انرژی در کشور ابراز نموده و ما برای تمام شان وعده مهیا نمودن زمینه سرمایه‌گذاری و هر نوع همکاری را داده ایم.

# سرپرست وزارت آب و انرژی به ولایات شرقی به سفر رفته است

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در یک سفر کاری به ولایات شرق کشور رفت.
نامبرده دیروز با محترم قاری زین العابدین عابد والی ولایت لغمان، محترم مولوی سید احمد بنوری معاون والی، محترم مولوی فیصل مختار قوماندان امنیه، محترم مولوی شیرجان راشدی رئیس حوزه فرعی دریایی لغمان و محترم شیخ زر محمد ولسوال نورستان غربی دیدار کرد.
در نخست مسئولین متذکره به آنها خوش آمدید گفت، سپس پیرامون مسایل مختلف ولایات شرقی به خصوص در مورد آب و انرژی به صورت مفصل صحبت نمودند.
مسئولین مشکلات موجود در بخش آب و انرژی، نیازمندی، پیشنهادات و پلان های آینده شان را با محترم وزیر صاحب آب و انرژی شریک نمودند.
محترم وزیر صاحب پس از استماع مشکلات، نیازمندی ها، پیشنهادات و پلان های آینده شان به آنها اطمینان داد که به خواست ها و پیشنهادات آنها اولویت داده می شود.
سرپرست وزارت آب و انرژی در این سفر از پروژه کانال شاهی دیدار کرد.



همچنان سرپرست وزارت آب و انرژی در جریان سفر خویش به ولایات شرقی از منطقه کله گوش نورستان هم دیدار کرد.
نامبرده این منطقه را برای اعمار بند آب یک نقطه مناسب دانسته گفت اعمار این بند بخش از پلان های آینده ما می باشد.که این بند پس از اعمار در کنار آبیاری زمین های این مردم ظرفیت تولید ۸۰ میگاوات برق را نیز دارا خواهد بود.
سرپرست وزارت آب و انرژی همراه با مولوی شیرجان راشدی رئیس حوزه فرعی دریایی لغمان و مولوی جمال الدین هاشمی رئیس مالی و اداری مقام ولایت به زیارت مهترلام بابا رفته و از دشت بابا صاحب دیدار نموده گفت با اعمار کانال شاهی این دشت آباد و سرسبز خواهد شد.

---

# د چارو د جریان د وضعیت، ستونزو د حل او د کارونو د ښهٔ انسجام لپاره د اوبو او انرژي وزارت د انرژي پهٔ معینیت کې غونډه وشوه

دغه غونډه د اوبو او انرژي وزارت د انرژي د معین مولوی عارف الله عارف پهٔ مشری د دغه وزارت د انرژي د سکتور د ټولو رئیسانو په شتون کې جوړه شوه.
پهٔ دې غونډه کې پهٔ بېلابېلو تخنیکي او اداري موضوعاتو لکه: د پانگوني لهٔ شرکتونو سره د همغږی کمېټې پر جوړولو، د وزارتونو ترمنځ د همغږی کمېټې د جوړولو او د نغلو د ۱۰۰ میگاواټه برېښنا پروژې د مساحت د بیا کتنې پهٔ اړه د وزارت مقام ته د طرحې وړاندې کول او د انرژي زونونو د مالي او اداري ستونزو د حل او نورو تخنیکي او اداري مسایلو پهٔ اړه بحث وشو. پهٔ دې کتنه کې اړوندو رئیسانو د یادو شویو موضوعاتو پهٔ اړه خپل مفصل راپورونه د انرژي وزارت لهٔ معین سره شریک کړل او د راپورونو لهٔ اوریدو وروسته د انرژي معین اړوندو مسئوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.



د اوبو او انرژي فصلنامه
بوولسم کال اتلسمه گڼه، د ۱۴۰۱هـ ش کال لمړی ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# د اوبو په لګښت کې سپما او د اوبو سرچينو د ساتنې کلتور ته د ودې ورکولو په موخه د اسلامي شريعت او تخنيکي اصولو په چوکاټ کې د عامه پوهاوي پيغام مسوده



انجنير عزيزالرحمن "عزيز"

بسم الله الرحمن الرحيم

## ســــــريزه:

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعالَمِينَ وَ الْعاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ و الصلاة و السلام علي سيدالانبياء والمرسلين،

اما بعد:

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم

أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ (٦٨) أَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ (٦٩) لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ (٧٠) ﴿٥٦﴾ سوره واقعه

آيا تاسو د هغو اوبو په اړه فکر کړی چې تاسو يې څښئ؟! (٦٨) آيا تاسو دغه له سپينو وريځو نه نازلې کړې دي، يا هم دا مونږ يې نازلوونکي يو؟! (٦٩) که مونږ وغواړو، دغه اوبه به تروې ترخې وګرځوو، نو تاسو ولې شکر نه وباسئ؟! (٧٠)

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢١:٣٠﴾ سوره انبياء

او مونږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پيدا کړی دی، آيا نو دوی ايمان نه راوړي؟

وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿٧:٣١﴾ سوره اعراف

او خوراک کوئ او څښاک کوئ او تاسو اسراف مه کوئ، بېشکه هغه (الله ﷻ) اسراف کوونکي نه خوښوي.

يعني په هر شي کې اسراف که هغه د خوراک يا څښاک شيان دي حرام دی.

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ۖ ﴿١٧:٢٧﴾ سوره اسراء

بېشکه اسراف کوونکي د شيطانانو ورونه دي.

دلته مراد عام دی يعني په هر شي کې اسراف کوونکي (که هغه اوبه يا نور خواړه وي)، فقهاوو کرامو فرمايلي که يو څوک موړ شي، تر هغه زيات خوراک ورته حرام دی.

هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ (١٠) يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (١١) ﴿١٦:١١﴾ سوره نحل

الله تعالی هغه ذات (ﷻ) دی چې د آسمان نه يې ستاسو لپاره اوبه نازلې کړې، ستاسي لپاره له هغو څخه څښاک دی او له هغو څخه ونې (واښه) هم دي چې په هغو کې تاسو (څاروي) څروئ، الله (ﷻ) پدې (اوربښت) سره ستاسو لپاره فصل او زيتون او کجورې او انګور او هر قسمه مېوې زرغونوي، بېشکه په دوی کې خامخا لويه نښه ده د هغو خلکو لپاره چې ښه غوره فکر کوي.

همدارنګه رسول الله ﷺ په مبارک حديث شريف کې فرمايي: المسلمون شركاء في ثلاث: في الماء والكلأ والنار. رواه الإمام أحمد و صححه الألباني

مسلمانان په دريو شيانو کې شريک دي: په اوبو، څرځای او اور کې.

د حديث شريف له مفهوم څخه داسې څرګنديږي:


وگړي وهڅوئ چې خپلې کاري ستونزې د برېښنلیک او ټلفون له لارې له تاسو سره شریکې کړي.

تر لاسه شوي برېښنایي او کتبي پیغامونه په ځانگړي وخت کې وڅېړئ.

له وگړو څخه وغواړئ چې غیر اړین برېښنلیکونه تاسو ته وانستوي.

هره ورځ له ملگرو سره په لنډه کتنه پیل کړئ. وروسته بیا له کومې دربدنې پرته یوه کاري دوره ولرئ او وگړو ته ووایئ چې کوم وخت په لاسرس کې یاستئ.

په خبرو اترو کې په ټینگار سره اصلي مطالبو ته مخه کړئ. د بېلگې په توگه د دې عباراتو په ویلو سره «هغه څه چې په اړه یې باید بحث وکړو دا ټکی دی» یا «ستاسو له تگ څخه مخکې یو بل مهم ټکی» چې نبیئ تاسو غواړئ خبرې ختمې کړئ.

کړتن وگړي د دې عبارت په ویلو سره له خبرو ودروئ: «زه ستا لپاره څه کولی شم؟»

د کاغذونو له انبار او باران څخه وتښتئ.

۳-۳- پاڼې او اسناد

ډېری وختونه هغه پاڼې چې زموږ په شاه او خواه کې دي په لومړیتوبونو باندې د تمرکز خنډ گرځي. هېڅ ټولیزه قاعده د دې لپاره چې څنگه خپلې پاڼې مدیریت کړو شتون نه لري. دا موضوع خپله د وگړي په کړنلاره پورې تړلې ده. ځینې وگړي که د ډېرو لوستو موادو په واسطه محاصره شي د هوساینې احساس کوي په داسې حال کې چې داسې وگړي هم شته چې یواځې د خلوت مېز (Privacy Table) د هغوی د افکارو د روښانتیا غولې جوړوونکی دی. مهمه ده چې د خپل تمایل او خوښې له سطحې څخه باخبره وئ او د پاڼو د تنظیم لپاره یوه سستم ته پراختیا ورکړئ.

البته که د اسنادو د لټولو لپاره ارزښتمن وخت له لاسه ورکوئ او مجبور یاستئ څو څله پاڼې وسپړئ، د یوې نوې کړنلارې خپلول اړین دي. دا کړنلاره وآزمېیئ: که د سند د ځای ټاکل له ۳۰ ثانیو څخه ډېر وخت ونیو، باید سستم ته بدلون ورکړئ. د دې پر ځای چې پرېږدئ شا ته پاتې اداري کارونه ستاسو په مېز د بوختیا سبب شي د کاغذ هره پاڼه وڅېړئ او ځانگړې کړئ چې آیا باید هغه لرې کړئ، له هغې څخه استفاده کوئ او یا سملاسي هغه زېرمتون ته واچوئ.

د مدارکو زېرمتون ته کمه پاملرنه کولی شي تاسو بوخت وساتي. که څه هم شوني ده تاسو د مدارکو زېرمه کولو او لاسرسي لپاره په اجرایي کارکوونکو تکیه وکړئ، خو غوره ده چې ځان ته یو ځانگړی سستم ولرئ. په دې صورت کې که کوم ملگری په لاسرس کې نه وي، ځان د هغه سند د موندلو لپاره چې ډېره اړینه او سملاسي اړیتا ورته لرئ، ناکام نه وینئ. او همدارنگه ملگري مو وهڅوئ چې مدارکو ته د اسانه لاسرسۍ او د وخت د نه لوټ کېدو په موخه له یوې سستماتیکې کړنلارې څخه استفاده وکړي.

د مدارکو د زېرمه کولو لپاره څو ټکي

پاڼو ته له زېرمه کولو مخکې نېټه ورکړئ

کوټه شوې پاڼې وڅېړئ، هغه پاڼې چې اړتیا نه ورته لرئ لرې کړئ او پر ځای یې نور بنسټیز مدارک ځای پر ځای کړئ.

د نه خلاص شوو لیکونو پاکټونه چې ستاسو د کار په اړه نه دي لرې واچوئ مگر دا چې پوستي نښه یې ځانگړې وي.

د جاري چارو مدارک د فایلونو د چنې ( د الماری ریک) په مخکینۍ برخه کې کېږدئ

د هرې کټگورۍ اړوند فایلونه په خپل ځای د الف با په تورو سره سم کېږدئ

د هرې چنې ۱۰ سانتي متره فضا تشه پرېږدئ. دومره چې وکولی شئ اسنادو ته په اسانه توگه لاسرسی ولرئ.

د چنیو په مخ لبل (پېژندپاڼه) ووهئ.

د هغو کارونو فایلونه چې په لاس کې مو دي او کار پرې کوئ خپل مېز ته نږدې کېږدئ.

کله چې له کوم فایل څخه یوه پاڼه اخلئ یوه نښه پرې ولگوئ تر څو پوه شئ چې پاڼه وروسته باید زېرمه شي او یا له منځه یوړل شي.

د فایلونو یو نوملړ جوړ کړئ.

## ۴- د کار ور چاپېریال

بنایي ناڅاپه وموميئ چې د کارونو په ترسره کولو کې مو وړتیاوې کمې شوې دي او د کار له پیل څخه څو گړۍ وروسته چې تېرېږي په سر مو درد شي. د خپل کار چاپېریال ته پاملرنه وکړئ. کېدای شي هغه وسایل چې تاسو ورسره لاسپوري یاستئ په وړ حالت کې نه وي.

د پنځونې د دود او له یوه سوکاله او سالم چاپېریال څخه د استفادې لپاره اړینه ده د خپل کار محل وڅېړئ تر څو وموميئ چې څنگه کېدای شي د جسمي او ذهني ځواک سطحه تاسو په ځان کې حل کړي. ستاسو چوکۍ او د هغه تکیه باید هوسا وي او ستاسو د وزن او خوځښت زغم باید ولري. غوره ده چې له یوه پښېلاندي څخه هم

استفاده وکړئ. دا مسایل ډېر ساده دي، خو هڅوننده کېږئ که ووینئ او واورئ په څه ډول هغه وگړي چې کولی شي ستونزمنې او پېچلې ذهني پروژې ترسره کړي د آرامی او سوکالی له لومړیو اصولو څخه بې پروا دي.

## ۵- د ټلفون د وخت کنټرول

له تلفوني اړیکې څخه مخکې له ځانه وپوښتئ:

زه څه ډول مالوماتو ته اړتیا لرم؟

آیا دا اړیکه مالوماتو ته د لاسرسی لپاره تر ټولو چټکه لار ده؟

آیا یو برېښنلیک ترې اغېزناک نه دی؟

څنگه کولی شم دا خبرې اترې لنډې وساتم او د بحث څانې (محور) ته له دې پرته چې خبرې بدرنگه او ابتدایي په نظر ورسې اشاره وکړم.

د دې لپاره چې یوه ټلفوني اړیکه اغېزناکه وي د لومړیتوب له مخې د هغو موارد‌و یو ټاکل شوی لړ چې په اړه یې بحث باید وکړئ چمتو کړئ. هرهغه مطلب چې فکر کوئ د خبرو په اوږدوکې کېدی شي مراجعه ورته وکړئ په خپل لاسرس کې راولئ. خبرې اترې په لنډ او روښانه ډول پیل کړئ. د بېلگې په توگه: «زه نه غواړم ستاسو ډېر وخت ونیسم» یا «زه نه پو هېږم چې دواړه ډېر بوخت یاستو».

کله چې نه پوهېږئ د نظر وړ وگړي سره به په نبغه توگه خبرې وکړئ که نه، د پیغام پرېښودلو لپاره پلان جوړ کړئ. د پیغام له پرېښودلو مخکې یوه ژوره ساه وباسئ او بیا په څرگند ډول خبرې وکړئ. که هغه وگړي چې تاسو زنگ ورته وهئ نه مو پېژني لومړی مو نوم ورته ووایئ او که نوم مو اسانه نه دی نو ابملا یې ورته ووایئ، البته په ډېره آرامی سره، تر څو هغه وگړی چې پیغام ته یې غوږ نیولی وکولی شي هغه ولیکي. وروسته بیا تر ټولو مهمه مسئله په چټکه توگه ورته څرگنده کړئ.

## ٦- د ځینو مسئولیتونو سپارل

ډېری وگړي نورو ته د کار سپارلو په وخت کې زړه تنگي کېږي. نورو ته د ځینو کړنو له سپارلو پرته هېڅکله نه شئ کولی خپل وخت تر خپل کنټرول لاندې راولئ. د کارونو په ترسره کولو کې په نورو باندې له ډاډ پرته په کم ارزښته جزئیاتو کې ډوبېږئ او وړتیا به ونه لرئ چې خپل ځواک او انرژي د موخو په لور رهبري کړئ. څو بنسټیزې مسئلې شتون لري چې وگړي د دې کړنلارې له ترسره کولو څخه لرې ساتي. د هغه څه په اړه چې ستاسو د کار خنډ گرځي فکر وکړئ.

د اوبو او انرژۍ فصلنامه

بوولسم کال اتلسمه گڼه، د ۱۴۰۱هـ ش کال لمړی ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# د اوبو زیاتېدونکې اړتیا او اهمیت



لیکونکی دیپلوم انجنیر محمد خان «غورځنګ»

دریمه بــرخــه

د اوبو او ورښتونو د کچې کمښت او د اوبو له کبله په نړیواله کچه راټوکېدونکې ستونزې د رواني پېړۍ له پیله د بحث توده موضوع ده. په دې تړاو د نړیوال بانک د پخواني مرستیال، د ۱۹۹۵م کال وړاندوینه مشهوره ده، چې وایي: په ۲۰مه پېړۍ کې ډېرې شخړې او جګړې د تېلو په اړه وې، خو د ۲۱مې پېړۍ ډېرې جګړې به پر اوبو وي .

د نړیوال بانک د څېړنو له مخې، اوسمهال د نړۍ ۸۰ هېوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او ۲,۸ ملیارده خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي، چې په لوړه کچه د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دي. داسې تمه کېږي، چې دا کچه به تر ۲۰۳۰م کال پورې ۳,۹ ملیارده تنو (د نړۍ نژدې نیمايي نفوس) ته ورسېږي .

د ملګرو ملتونو د وړاندوینې له مخې، د ۲۱مې پېړۍ تر نیمايي پورې به د ځمکې د اوبو د ضایع کېدو او ککړېدو له کبله بنايي د ټولې نړۍ ۷۰ سلنه وګړي (شاوخوا ۷ ملیارده تنه) د خوږو اوبو له کموالي سره مخ شي. همدا لامل دی، چې ورځ تر بلې د اوبو اړتیا او اهمیت زیاتېږي او افغانستان هم د هغو هېوادونو په کتار کې دی، چې د اوبو له کمښت سره مخ دي. د اوبو کمښت په ځانګړې توګه زموږ پر هېواد په لاندې برخو کې اغېزې ښندلې او په هېواد کې یې د اوبو اړتیا او اهمیت لا ډېر لوړ کړی دی:

الف: د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې

په داسې حال کې چې اقلیمي بدلونونو او د ورښتونو د کچې کمښت په نړیواله کچه ګڼ شمېر سیمې ځپلې دي، د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼې نړیوالې اداري او پالیسي جوړوونکي په دې اند دي، چې په نړۍ کې به راتلونکې ډېرې شخړې پر اوبو وي او هر څومره چې د اوبو کچه کمېږي، همدومره یې له کبله شخړې او کشمکشونه هم زیاتېږي. افغانستان هم له یوې خوا د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې راځي او له بلې خوا عملا له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر اختلافات لري. همدا لامل دی، چې په افغانستان کې د ایران او پاکستان د لاسوهنو یو لامل ګڼې اوبه بلل کېږي او دغه هېوادونه هڅه کوي، چې افغانستان د دغو اوبو د مدیریت مجال پیدا نه کړي. په دې تړاو ایران تر جدي شکونو او نیوکو لاندې دی، چې د افغانستان په خاوره کې د بندونو د جوړولو پر پروژو مخفیانه بریدونه کوي او د دغو پروژو د ځنډولو هڅې کوي. کمال خان، بخش‌آباد او سلما هغه بندونه دي، چې د پروژو د تخریب او کار درولو په موخه یې پر ایران د لاسوهنو او مخفیانه بریدونو له کبله نیوکې شته دي. دغه راز د ۲۰۱۸م کال په مې میاشت کې د فراه ولایت پر مرکز برید ، د اوبو د جګړې په معنی ده . اصلا ایران او پاکستان په دې اند دي، چې په افغانستان کې د بندونو له جوړېدو سره د دوی ګټې له ګواښ سره مخ کېږي؛ ځکه په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د اوږدو بې‌ثباتیو له کبله د افغانستان اوبه دغو هېوادونو ته په وړیا ډول ورغلې دي.

ب: کرنیز سکتور او اقتصادي وضعیت

.1 د کرنې سکتور نبغ په نبغه د اوبو له وضعیت سره تړلی دی، چې ۹۵ سلنه اوبه پکې مصرفېږي او اوس مهال دا سکتور د ټول هېواد په کچه د اوبو له کمښت سره مخ دی. په ۱۹۷۰م کال کې په افغانستان کې ۳,۳ میلیون هکتاره ځمکه خروبېدله؛ خو دا کچه په ۲۰۰۸م کال کې ۱,۸ میلیون هکتاره کرنیزې ځمکې ته راټیټه شوې وه. له دې جملې ۱۰ سلنه یې له عصري لارو چارو په ګټې اخیستنې سره خروبېږي او د ژورو څاګانو په څېر په دودیزو تګلارو تکیه کېږي، چې د اوبو د کچې په کموالي کې رول لري. له اوبو څخه د اغېزناکې ګټې اخیستنې په موخه د اوبو د مدیریت او پراختیا په سیستمونو او میکانیزمونو کې د پانګونې نشتون یوه له هغو ننګونو ده، چې په دې برخه کې د ستونزو د زیاتېدو لامل شوې ده.

د کرنې سکتور د افغانانو د اقتصاد ۷۸ سلنه برخه جوړوي او شاوخوا ۸۴ سلنه اوبه هم د ځمکو د خروبولو لپاره کارول کېږي، چې په دې برخه کې پر بنسټیزو منابعو، لکه په کاریزونو تمرکز، پام وړ پایله لرلې ده. د اوبو او انرژۍ وزارت د پخوانیومعلوماتو له مخې، په هېواد کې د اوبو لګونې سرچینې له سیندونو ۸٤,٦ سلنه، له ابشارونو ۷,۹ سلنه او له کاریزونو ۷,۵ سلنه دي. دا وېشنه د دې ښودنه کوي، چې له بده مرغه په افغانستان کې د کاریزونو سیستم ته ډېره پاملرنه نه ده شوې. په داسې حال کې چې کاریزونه نه یوازې دا چې د اوبو د زېرمه کولولپاره ، بلکې د نورو اغېزناکو موخو لپاره هم کارول کېږي.

د افغانستان ۷۷ سلنه نفوس په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، چې کرنه او مالداري یې د ورځنۍ ژوند د لګښتونو او اقتصاد عمده برخه جوړوي. د افغانستان د ټول نفوس ۵۹ سلنه وګړي په دې برخه کې بوخت دي او له همدې کبله د کرنې سکتور ونډه په ناخالصو داخلي تولیداتو کې هم ۳۰ سلنه ده. په دې توګه اوبه د دې سیمې لپاره په اقتصادي وده، سیاسي ثبات او غذايي امنیت کې خورا مهم رول لري .

د دې ترڅنګ، افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه د برېښنا واردولو ته اړ دی او شاوخوا ۸۰ سلنه برېښنا له ایران، ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان څخه واردوي او هر کال میلیونونه ډالره پرې لګوي. افغانستان دا مهال د ۲٤۰ مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې له اوبو څخه د ۲۳ زره میګاواټه برېښنا د تولید د وړتیا ایله یو سلنه جوړوي او دا وضعیت د صنعت پر سکتور او اقتصادي وده نبغ په نبغه اغېزه لري. ځکه نو د اوبو د تنظیم لپاره د کافي زېربناوو نشتون د هېواد د اقتصادي او بشري ودې پر وړتیا هم ناوړه اغېزې ښندلې دي. په داسې حال کې چې د اسیا د پرمختیایي بانک د شمېرو له مخې تر ٤۰ سلنه زیات افغانان عملا د بېوزلۍ تر کچې لاندې ژوند کوي چې په خواشینۍ سره دا کچه د وروستیو پېښو له کبله لا ډېره شوېده او د نړیوال بانک شمېرې ښیي، چې د بې‌کارۍ کچه هم خورا لوړه ده.

ج: د څښاک پاکو اوبو ته نه لاسرسی

دا مهال یوهستره ننګونه پاکو اوبو ته نه لاس رسی دی. په افغانستان کې تر ځمکې لاندې اوبو سرچینې په لوړه کچه تر فشار لاندې دي او تر نیمايي زیاتې اوبه د پمپونو په مرسته را ایستل کېږي، چې له دغو سرچینو تر ټولو ډېره استفاده په کابل ښار کې تـر سـره کـېـږي. په وروستیو کلونو کې د کډوالو زیاتېدونکی

شمېر او د نفوس چټکه پراختیا د ځمکي لاندې اوبو د کموالي او په پراخه کچه د اوبو د څاګانو د وچېدو لامل شوې ده. د یوې ازموينې له مخې په ۴۰ کلونو (۱۹۶۵-۲۰۰۵م) کې د دې سيمې اوبه ٦ تر ۷ متره پورې ښکته تللې وې. د اوبو د کچې د ټيټوالي ترڅنګ د اوبو د کيفيت په تړاو هم جدي اندېښنې شته دي او په دغه ښار کې تر ځمکي لاندې اوبه په پراخه کچه ککړې شوې دي. تر ۸۶ سلنه زيات خلک يوازې يو ساده د ککړو اوبو څاه لري، چې په معياري ډول نه پاکېږي او له کبله يې يو شمېر مرکبات لکه نايترت، سلفېټ او ځينې باکټرياوې لړ ژورو اوبو ته رسېږي.

د ځينو نړيوالو ادارو د راپورونو له مخې، د پلازمېنې په ګډون د ټول هېواد په کچه د ښښاک پاکې اوبه له یوې خوا په پراخه کچه کمې شوې دي او له بلې خوا په غـيرمعياري ډول کارول کيږي او د ښښاک د پاکو اوبو ستونزې د روغتيا پر سکتور هم خورا منفي سيورى غوروليٰ دى. ځيني څېړني ښيي، چې که د پلازمېنې اوبو ته پاملرنه ونه شي، يوه لسيزه وروسته به په کابل ښارکې د ښښاک پاکې اوبه نه موندل کېږي.

د اوبو کچه او وروستی وچکالی

په افغانستان کې د اورښتونو کلنۍ کچه متفاوته ده، چې تر ټولو ډېره يې په شمال ختيزو سيمو کې او کمه يې په سوبلي سيمو کې، په وچو او دښتو لرونکو برخو کې ده. په سوبل کې د ورښت کچه هر کال له ۱۰۰ تر ۳۰۰ ملي‌مترو پورې رسېږي او په لوېديزو سيمو کې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ ملي‌مترو پورې اټکل شـويده. اوسط کلنۍ کچه يې ۷۷ ميلي‌متره په زرنج کې او ۱۱۷۰ ملي‌متره په سالنګ کې تخمين شوې ده او د ټول افغانستان په کچه بيا هر کال د ورښت کچه ۲۸۵ ملي‌متره اټکل شوې ده. په منځنۍ ډول هر کال په افغانستان کې د ۱٦۵۰۰۰ ميليون متر مکعب ورښت په پايله کې ۵۷۰۰۰ ميليون متر مکعب د ځمکې پر مخ بهېدونکي اوبه توليدېږي.

په نورمالو کلونو کې د افغانستان ټولې کلنۍ اوبه ۷۵ ميليارد متر مکعبه اټکل شوې دي، چې ۵۷ مليارد متر مکعب يې د ځمکي د سطحې او ۱۸ مليارده متر مکعب يې د ځمکي لاندې سرچينو اوبه دي. داسې اټکلونه شته دي، چې د افغانستان له ګډو اوبو څخه ۴۰ مليارد متر مکعب يې ګاونډيو هېوادونو ته ځي او افغانستان په ټوليز ډول له خپلو ټولو سطحي او تر ځمکي لاندې اوبو څخه يوازې شاوخوا ۲۵ سلنه (۲۰ مليارده متر مکعب) يې خپله مصرفوي او پاتې ۷۵ سلنه يې ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي (جدول-۲) که څه هم، د اوبو او انرژي وزارت د چارواکو د معلوماتو له مخې، افغانستان له خپلو ټولو ۷۵ مليارد متر مکعب اوبو څخه يوازې ۳۰ سلنه يې خپله کاروي او پاتې ۷۰ سلنه ګاونډيو هېوادونو ته ځي.

د وروستيو کلونو وچکاليو د افغانستان د اوبو کچه هم پام وړ کمه کړې ده. د ځينو افغان چارواکو په وينا، د افغانستان د پنځو حوزو اوبه په ټوليز ډول ۱۴ سلنه کمې شوې دي او د ټولو ۵۷ مليارده متر مکعب سطحي اوبو کچه، اوس ۴۹ مليارده متر مکعب ته راښکته شوې ده. د وروستيو کلونو د وچکاليو له کبله، په ډېرو سيمو کې د ورښتونو کچه شاوخوا ٦۰ سلنه راکمه شوې ده او له کبله يې زيات شمېر خلک کډواليو ته هم اړ شوي دي. په افغانستان کې د اوبو کمښت بېلابېل لاملونه لري. د نفوس زياتوالی، د اوبو د سرچينو ناسم او بې‌ځايه مصرف او کمزورى مديريت، تر ځمکي لاندې اوبو کمبدل او کګړوالي او اقليمي بدلونونه يې مهم لاملونه دي. دا فشار تر ټولو ډېر د کابل سيند په حوزه کې احساسېږي، چې کابل ښار ته اوبه ورکوي او دکابل ښاريان د پاکو اوبو له جدی ستونزې سـره لاس او ګـريوان دی او په ټوليز ډول د افغانستان ۳۵ سلنه يا ۸ ميليونه نفوس د دې حوزې اوبه کاروي. د دغې کچې ۴,۵ ميليونه يې يوازې په کابل ښار کې ژوند کوي او داسې اټکلونه شته دي، چې دا شمېر به تر ۲۰۵۰م کال پورې ۸ ميليونه ته ورسېږي. په دې توګه کابل ښار د نفوس له پلوه د نړۍ پنځم پراخېدونکی ښار او د اوبو له پلوه تر ټولو ډېر فشار لرونکی ښار دی .

د ځينو څېړنو له مخې، يوازې د پلازمېنې اوبه په تېرو لسو کالو کې ۱۵ متره ښکته تللې دي، چې په ځينو سيمو کې يې بيا دا کچه ان تر ۴۰ مترونو پورې هم رسېږي. د کابل ښار په لوېديځ کې په يوه مشخص مورد کې، يو ۳۰ متره ژور څاه، کابو اته کاله وړاندې اوبه لرلې او وروسته وچ شوی؛ خو اوس په ۲۰۱۸م کال کې بيا په همغه ځای کې ۷۰ متره ژور څاه يو ځل بيا وچ شوی، چې له اته کاله وړاندې سره ۴۰ متره توپير لري .

د اوبو د کچې ټيټوالی او ترې راټوکېدونکي ستونزې داسې مهال دي، چې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د معلوماتو (۲۰۱۴م) له مخې، په بيرونيو سرچينو پورې د افغانستان د اوبو د تړاو نسبت ۲۸,۷ سلنه دی، چې دا نسبت د بېلګې په توګه په پاکستان کې ۷۷,۷ سلنه دی او افغانستان له هغو هېوادونو دی، چې په پراخه کچه د اوبو سرچينې لري. د دې ترڅنګ، افغانستان د سطحې اوبو د زېرمه کولو ښه پوټنشيل لري؛ خو له بده مرغه د څلورو لسيزواوږدو جګړو او بې‌ثباتيو له کبله دا مهال د اوبو د ذخيره کولو ډېره کمه وړتيا لري او په دې برخه کې د اوبو د زېرمه کولو لومړنی تګلارې بيارغونې ته اړتيا لري او ترڅنګ يې له پرمختللې ټکنالوژۍ په ګټې اخيستنې سره د سترو زېرمو د رامنځته کولو او سترو او پرمختللو ذخيروي بندونو د پراختيا جدي اړتيا ليدل کېږي. او په دې وروستيو کالو حکومت په ځانګړې توګه د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت په پام کې لـری چې د کابل ښار د اوسيدونکو د اوبو د ستونزې د منځنيوى به موخه به پلان کی لـری چی د کابل د جهار اسياب په ولسوالي کې د اوبو د ذخيرې يو بند د۱۵٦ ميليون متره مکعبه په ظرفيت تر جوړونې لاندې نيولی دی چی د سروی او ديزاين چاری او هم يې د ځمکو د تصفيې کارونه لا پخوا سرته رسيدلی او هند هېواد ددې بند جوړونې لپاره خپله امادګي ښودلی ده . له نورو هېوادونو سره د افغانستان د اوبو د زېرمه کولو د وړتيا پرتلنه په لاندې جدول کې وګورئ.

جدول-۱: د اوبو د زېرمه کولو د وړتيا پرتلنه

| د اوبو د زېرمه کولو وړتيا (متر مکعب) في نفر | هېواد/سيمه |
|---|---|
| 6000 | د امريکا متحده ايالات |
| 2200 | چين |
| 963 | نړۍ |
| 379 | ايران |
| 353 | اسيا |
| 150 | پاکستان |
| 140 | افغانستان |
| **د اوبو ناکارول شوې سرچينې** | **د افغانستان له‌خوا يې کارونه** |
| 40 | 17 |
| 15 | 3 |
| 55 | 20 |

د اوبو سرچينه — د اوبو د سرچينې وړتيا

د ځمکې د سطحې اوبه ۵۷

تر ځمکې لاندې اوبه ۱۸

ټولې ------------------------------ ۷۵

# د هلمند اوبو تړون تطبیق پر وړاندې خنډونه

دویمه برخه:

**۱ – اقلیمي بدلونونه او د اوبو سرچینو کمښت**

د ځمکې سر ۴/۳ سلنه اوبه تشکیلوي او پاکې د څښاک وړ اوبه په نړۍ کې ډېرې کمې دي. لیکن همدا کم مقدار هم په مساوي او برابره توګه نه دي وېشل شوی. د مثال په توګه د نړۍ ۶۰ سلنې خوږې اوبه د نړۍ له ۱۰ په کمو هېوادونو کې شتون لري، کانادا، چین، کلمبیا، کانګو، برازیل، روسیه، متحده ایالات، هند او اندونزیا دا ډول هېوادونه دي. په مقابل کې د نړۍ ۸۰ هېوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي. په ځانګړې توګه کویټ، بحرین، متحده عربي امارات، اردن، لیبیا هغه هېوادونه دي چې د نړۍ په وچ کمربند او یا نیمه وچ اړخ کې قرار لري؛ او کابو د خوږو اوبو هیڅ پام وړ سرچینې نه لري. پایله داده چې همدا د خوږو اوبو ناڅیزه مقدار هم په نړۍ کې په برابره توګه نه دی توزیع شوی؛ او ځینې هېوادونه په طبیعي توګه ډېرې اوبه ترلاسه کوي په داسې حال کې چې ځینې هېوادونه په طبیعي توګه کم مقدار اوبه ترلاسه کوي. د ملګرو ملتونو اوبو پروګرام اداري لس هغه هېوادونه چې د اوبو له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي په لاندې توګه ښيي: سومالیا، موریتانیه، سودان، نایجریه، عراق، ازبکستان، پاکستان، مصر، ترکمنستان او سوریه. د امریکا فضایي آژانس څېړنې ښيي چې په راتلونکو ۳۰ کلونو کې به د اوبو له اړخه په منځني ختیځ کې وضعیت لا پیچلی او ناوره شي او اوبه به د دې سیمې په مهمې ربړې بدلې شي. په دې راپور کې راغلي دي چې د اوزون طبقې ناوره وضعیت ته په پام او همدارنګه د لمر په لور د ځمکې سیارې د یو ملیونیم سلنې په اندازه څرخ د دې سبب شوی چې د نړۍ ۴۵ هېوادونه د شدیدې وچکالي سره مخ شي او که چېرې په دې سیمو کې په کافي اندازه اوبه ذخیره نه شي نړۍ به د زراعتي محصولاتو تولید او څاروېو د پالنې په برخه کې له بحران سره مخ شي. له دې سره سره د اوسنیو اوبو کمښت لاملونه نور هم دي. دا عوامل که څه هم په هر هېواد او هرې سیندیزې حوزې کې توپیر کوي، خو بیا هم مشترک نړیوال عوامل لري لکه: د نفوس بېساري وده، ناموثره کرهنه، د پراختیا ناوره مدیریت، د اوبو حکومتولۍ ناسم او نامناسب جوړښت، په اوبو کې د ذیدخلو ګروپونو تعدد او اوبو ته د ستراتژیکي او اوږدمهالي لید نه درلودل. په افغانستان کې د اوبو کمښت عمده لامل د هوا تودوخې درجې ډېروالی، د نفوسو بېساري وده، ښاري توب، طبیعي یخچالونو وېلې کېدل، د باران په بڼه ډېر اورښت او داسې نور هغه عوامل دي چې په دې هېواد کې د اوبو کچې کموالي سبب شوي دي. د هېواد پامیر او هندوکش غرونو په لوړو څوکو کې د هوا تودوخې ډېروالي په سبب په تېرې نیمې پېړۍ کې شاه خوا ۳۰ سلنه طبیعي یخچالونه وېلې شوي دي او آن کوچني طبیعي یخچالونه په کلي ډول له منځه تللي دي. د پوله تېریدونکو اوبو په اړه څېړنې کاږي چې اقلیمي بدلونونو د افغانستان په غرنیو سیمو کې د اورښت پر روال منفي اغیزه کړې په ځانګړې توګه د واورې په شکل اورښت ډېر کم شوی او په ژمي موسم کې د ۹،۲ درجې سانتي ګراد په اندازه د هوا ګرموالی د دې سبب شوی چې کلنۍ د ځمکې تودوخې اوسط کچه ۲۰۴۶ ته لوړه شي او ځمکه هم د ځنګلونو قطع کولو پرمټ خپل کیفیت له لاسه ورکړي. همدارنګه وړاندوېنه کېږي چې د اورښت موسمونو کې د روال تغییر کیدای شي په داسې بڼه وي چې په ځینو سیندیزو حوزو کې آن د ۲۰ سلنې اورښتونو کموالي سبب شي. د یادولو وړ ده، چې په افغانستان کې وچکالي لا د دې سبب شوي چې د اوبو سرچینې په زیاتیدونکي توګه له فشار سره مخ شي او د څاګانو ککړتیا سربېره د هغوی د وچیدو او یا غیر فعالیدو سبب شوې دي.

په افغانستان کې د اوبو کارپوهان په دې باور دي چې د هلمند اوبو تړون بشپړ تطبیق پر وړاندې اقلیمي بدلونونه یو له مهمو خنډونو څخه دي. طبیعي ذخایر د یخچالونو په بڼه د وېلې کیدو په حال کې دي او افغانستان به پرته له شکه له دې وروسته د اوبو مهار، زراعتي او یا بل هر ډول ګټه اخیستنې په موخه د اوبو ذخیره کولو او بندونو جوړولو ته اړتیا ولري.

**۲ – د افغانستان او ایران ترمنځ غیر متوازنه پراختیا**

د افغانستان پوله تېریدونکو اوبو سرچینو مدیریت پرمخ یو له مهمو خنډونو د اوبیزو ګاونډیو په نسبت د افغانستان نامتوازن انکشاف دی. افغانستان د تیرو څو لسیزو بې ثباتیو له کبله نه دی توانیدلی چې خپلې اوبه مهار او مدیریت کړي.



استاد برکت الله "آریوبی"

افغانستان د نورو ګاونډیو هېوادونو په پرتله وروستی د پراختیا مراحل طی کوي. دا چاره د پوله تېریدونکو اوبو سرچینو مدیریت په برخه کې ستره ننګونه ګڼل کېږي. ځکه د افغانستان پراختیا د ګاونډیو هېوادونو په پرتله په مراتبو ورو ده، او په ورته وخت کې دا هېواد حق لري چې د سیندونو څخه خپله منصفانه ګټه واخلي، په داسې حال کې چې نورو هېوادونو وار له مخه له خپلو اوبیزو سرچینو څخه ډېره زیاته ګټه اخیستې او د استفادې نوي توقعات یې رامنځته کړي دي. په هلمند سیندیزه حوزه کې د افغانستان لاندې پروت هېواد (ایران) د رسمي څېړنو تر مخه تر اوسه په دې هېواد کې ۶۴۷ بندونو ګټې اخیستنې ته سپارل شوي، ۱۴۶ یې د کار لاندې او ۵۳۷ یې تر مطالعې او ارزونې لاندې دي او همدا ډول نور هېوادونه هم ورته وضعیت لري. دا په داسې حال کې ده، چې په افغانستان کې د لویو او کوچنیو بندونو ټولټال شمېر ۲۱ ته رسیږي. همدارنګه د نړیوال بانک ارزونو له مخې په افغانستان کې د سړي سر عاید په کلني توګه ۱،۳۹۹ ډالره په ۲۰۱۱م کې رسیدل او په همدې کال کې د ایران کلني سړي سر عاید ۱۱،۳۹۵ ډالرو ته رسیده. په ۲۰۱۳م کال کې د افغانستان بشري پراختیا شاخص ۱۷۵ نمبر ته رسیده په داسې حال کې د ایران د همدې شاخص له مخې ۷۶ نمبر ته رسیږي. د ناکامو دولتونو معیار له مخې د افغانستان شاخص ۷ نمبر ته رسیږي او ایران ۳۷ نمبر کې شتون لري. په اداري فساد کې هم په ۲۰۱۳م کال کې افغانستان په ۸ ځای کې موقعیت درلود حال دا چې ایران ۲۵ نمبر کې اوسیږي. همدارنګه که چیرې نور شاخصونه یې هم مطالعه شي وبه لیدل شي چې افغانستان په ډېره نامتوازنه توګه له خپل غربي ګاونډي (ایران) څخه په پراختیا کې وروسته پاتې دی.

---

Water business council for sustainable development

ناصر کرمی، ایران و خطر هم آمیختگی خشکسالی و خشونت، بی بی سی فارسی، ۶اکتوبر، ۲۰۱۴

یحیی حازم، آبهای فرامرزی افغانستان؛ سه تهدید و سه فرصت، چهارمین کنفرانس ملی آبِ کابل، حوت ۱۳۹۵،ص ص۷

ملیار، ادریس، مروری بر حوزه دریایی کابل، موسسه تحقیقاتی دران، کابل، میزان ۱۳۹۶، ص ۲۶،

همان، ص۲۷

Ehsanullah hayat, adopting strategic framework for transboudary water resources management in Afghanistan,march 2017,research gate,p.50

http//daminfo.wrm.ir/fadam/stats

ریاست برنامه های آب، وزارت انرژی و آب افغانستان

World bank overview, Afghanistan in transition: looking beyond 2014

د يادولو وړ ده، چې دا موضوع يوازې د افغانستان په اړه نه ده مطرح، بلکې د نورو هېوادونو موارد هم په دې اړه شتون لري. لکه ايتوپيا چې په نيل سينديزه حوزه کې له خپلو نورو گاونډيو وروسته پاتې او وروستى پراختيا په حال کې ده، په داسې حال کې چې ترکيې په فرات سيند باندې کافي بندونه جوړ کړي دي.

که چېرې افغان دولت اوسنى پلان شوې برنامې او يا نورې پراختياېي پروګرامونه د هلمند سينديزې حوزې پر سر په پام کې ولري او يا يې غواړي تکميل کړي، طبيعي ده چې دا مسأله به له ايران سره د ستونزو رامنځته کېدو سبب کيږي. که څه هم د هلمند اوبو ترون په دې اړه صراحت لري، چې د ايراني حقآبې تأمين سربېره باقي ټولې اوبه د افغانستان ملکيت دی، دا هېواد حق لري هر ډول چې يې غواړي ترې استفاده وکړي. لکه څنګه چې تارلوک واېي په يوې کډې سينديزې حوزې کې د اوبو سرچينو منصفانه وېش په دې بنسټ ولاړ دی چې ټول حقآبه لرونکې هېوادونه بايد په دوامداره او دايمي توګه د يوې نړيوالې سينديزې حوزې ګټمن کېدو کې شريک وي. دا چاره د افغانستان په ګټه هېوادونه چې د پراختيا پروسه يې ورو ده، حق ورکوي چې کله ورته زمينه مساعده وي له خپلو پوله تېرېدونکو اوبو سرچينو څخه ګټه واخلي او دا چاره په خپله په لاندې پروت هېواد يو ډول فشار اچوي چې ممکن د نويو ستونزو رامنځته کېدو سبب شي.

**۳ – د دوه هېوادونو ترمنځ بې اعتمادي او سياسي ستونزې**

افغانستان او ايران دوه داسې ګاونډې ملکونه دي چې ګډ تاريخي، ژبنيز، فرهنګي، ديني او ...مشترکات سره لري، ليکن د دې باوجود هم د دې دوه هېوادونو په اړيکو کې بې اعتمادي حاکمه ده. البته د دې بې اعتمادي فکتورونه د پخواني نظام شتون کې بېل وو او د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره ځينې دا فکتورونه عوض شوي دي. له تحول وروسته سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت عمومي عفوه اعلان کړه خو د دې ډلې ځينې پخواني غليمان(شمال متحده جبهې) ډېری مشرانو ايران ته پناه يوړه. داسې راپورونه ورکول کيږي چې ايراني چارواکي وخت په وخت د اوسني افغان دولت مخالفينو مشرانو سره په هغه هېواد کې کوري او ورته مشورې ورکوي. که څه هم اسلامي امارت ادعا کوي چې دوی وکړای شول د ايران ابدي دښمن(امريکا) په افغانستان کې ماته وخوره، او په خبره يې دوی ايران هم وډغوره او د ازلي دښمن پښې يې ورماتې کړې. خو ايراني لوري بيا خپلې اندېښنې هم لري. دوی فکر کوي چې اوسنى نظام ټولشمول نه دی او داسې ښکاري چې د شعيه ډلو په کمزوري مشارکت خپله اندېښنه لري، له بل لوري په ګډ سرحد کله کله د نښتو راپورونه ورکول کيږي چې دې چارې د دوه هېوادونو پر اړيکو سيوری خور کړی دی. ايران په تيرو شلو کلونو کې افغانستان کې نظام دننه ډېر نفوذ درلود او دوی تمه لري دا نفوذ يې په اسلامي امارت کې هم وساتي.

په تيرو شلو کلونو کې چې دلته جمهوريت حاکم وو، ايران هڅه کړې د خپلو سياسي او غير سياسي اهدافو تعقيب په موخه خپل تحرک ولري او د وخت دولت باندې يې لاسبری او موفقانه نفوذ درلود. دا نفوذ او تحرکت دومره لاسبری وو چې د ډيرو کلونو لپآره د پخواني جمهور رئيس( حامد کرزي) دفتر ته به د ايران له لوري ډېري پيسي راتللې او دا خبر په لومړي ځل نيويارک ټايمز ورځپاڼې په ۱۳۹۶ کې افشا کړه.

په فرهنګي برخه کې هم بايد وويل شي چې افغانستان تل د ايراني کلتور تر يرغل لاندې راغلی دی. د دې موضوع وضاحت لپاره په ۱۳۸۶هـ ش. کې سمنګانو ولايت کې د يو کتابتون تجهيز او رغونې مثال راوړلای شو چې په زرګونو جلدونو کتابونو سربېره هغه هېواد پرې ۶۰ زره امريکايي ډالر ولګول او په ورته وخت کې يې دا ډول کتابتونونه د افغانستان په نورو لويو ښارونو کابل، هرات، بلخ کې پرانيستل. دا په داسې حال کې ده چې په اوسني وخت کې ډېری افغان ځوانان د خپلو تحقيقاتو په لړ کې له ايراني سرچينو څخه ګټه اخلي. همداراز پټه نه ده، چې پخواني حکومت کې ځينې قومي مخور، سياسيون او مذهبي کړيو د ايران له طريقه ډيرو مالي سرچينو ته لاسرسی درلود او په ورته وخت کې يې د دوی مشارکت او په قدرت کې د ونډې څخه تل ننګه کړې.

**۴ – د ايران له لوري د اوبو بې روبې ګټه اخيستنه**

که څه هم ايران دولت تل له افغانستان غوښتې چې د هلمند ترون تطبيق په برخه کې په خپلو ژمنو عمل وکړي، ليکن افغان لورى تل ټينګار کوي چې ايراني لوري په بې روبې توګه له اوبو څخه ګټه اخلي. ايران د کمال خان بند جوړېدو مخکې له خپلې حقآبې ډيرې اوبه ترلاسه کړې دي. حتی په ځينو کلونو کې يې ۴ چنده اوبه ترلاسه کړې دي. د کمال خان بند د جوړېدو وروسته د دوی حقآبه نظام منده شوې. د معاهدې مطابق دوی هر کال خپله حقآبه اخلي. ستونزه داده چې ايراني لوري د ګډ اوبيز سرحد ترځنګ بېساري اوبيز تآسيسات جوړ کړي چې د دوی حقآبې څو چنده ظرفيت لري. دوی څکه وخت ناوخت اعتراض کوي چې د پخوا پشان پريمانه اوبه نه ورځي يوازې د معاهدې مطابق خپله حقآبه اخلي.

افغانستان د معاهدې امضاء راوروسته په تيرو شاه و خوا ۵۰ کلونو کې سره له ناوړه سياسي، امنيتي او اقتصادي حالت په هر وضعيت کې معاهدې ته ژمن پاتې شوی او په ښه نيت يې خپل تعهدات اجراء کړي دي. لکه څنګه چې په خپله معاهدې کې ۲۲ مترمکعب في ثانيه ورانددوېنه شوې ليکن ۴ مترمکعب اوبه يې په ښه نيت او حسن همجواري په پار هغه هېواد ته په نظر کې نبولي دي.

ايرانيان د معاهدې احکامو چې د اړتيا پر بنسټ يې د مشترکو تآسيساتو جوړول، د ګېو استيشنونو نصب تجويز کړي، له دې مواردو څخه ناوړه ګټه اخلي او د معاهدې خلاف واټرپمپونه يې نصب کړي وو؛ چې له مخې يې زياتې اوبه اخيستې. سره له دې چې دا موضوع د افغان دولت له لوري په ځلونو د هلمند اوبو کميسارانو په غونډو کې مطرح شوې ده؛ ليکن ايراني لوري بيا بيا پلمې کولې او د ژمنو سربېره يې واټرپمپونه پورته نه کړل. ايران په ۲۰ مه ناسته کې هم يو ځل بيا تعهد کړی چې په لومړيو دريو مياشتو کې به ۵۰ سلنه او وروستيو دريو مياشتو کې به ۱۰۰ سلنه واټرپمپونه جمع کوي.

بين المللي تحقيقات هم همدا څرګندوي چې ايراني لوري حتى په ځينو کلونو کې د خپلې حقآبې ۶ چنده اوبه اخيستې. په دې اړه د ازمير تکنالوژي انستيتيوت له لوري په يوه څېړنه کې راغلي دي چې د هلمند سيند څخه و ايراني لوري ۵۰۰۰ ميليون مترمکعب.

---

ماده ۵ معاهده هلمند بين افغانستان و ايران، ۱۳۵۱
ادريس، مليار، پيشين ص ۲۸.

ايران و مداخله دوامدار در امور داخلی و خارجی افغانستان، وبسايت هويدا، ب۲۰ سرطان ۱۳۹۶
صورت جلسه ۲۰ کميساران آب هلمند بين افغانستان و ايران، کابل، ۲۲ جوزا ۱۳۹۸

اوبه اخیستې حال دا چې افغانستان مکلف دی ایران ته په نورمال اوبیزو کلونو کې ټولټال ۸۲۰ میلیون مترمکعب اوبه ورکړي. په بل عبارت ایران په ځینو کلونو کې ۶ برابره ډېره حقآبه ترلاسه کړې ده او د افغانستان وضعیت ځخه یې ناوړه گټه اخیستې.

د اوبو او انرژي وزارت پخوانیو چارواکو هم دا مسأله یاده کړې ده. په ۲۰۱۸کال کې د وخت وزیر علي احمد عثماني ولسي جرگې ته په استماعیه غونډه کې ایران د اوبو په ناوړه مدیریت او بې رویې گټې اخیستنې تورن کړ. نوموړي ویلي وو چې ایران په لسگونو بندونو د افغانستان سره په گډو اوبو جوړ دي حال دا چې افغانستان یوازې ۴ بندونه په دې اوبو تر لاس لاند نیولې دي. د ده په وینا ایران په قراقرم، خاف، پتړکان او هلمند سیندونو باندې لسگونو بندونو په جوړولو سره د دې سیندونو وچېدو لامل شوی.

**۵- د اوبو تحویلولو ځرنگوالی:** سره له دې چې د هلمند سیند ځخه د کټې اخیستنې حقوقي رژیم د ۱۳۵۱هـ ش ترون کې تدوین شوی، لیکن د تیرو څو لسیزو بې ثباتیو او ناامنیو له کبله نه وو توانیدلي چې مشترکه غونډه جوړه کړي چې په پای کې دواړه لوري وتوانیدل په ۱۳۸۳هـ ش کې تهران کې د کمیسارانو لومړنی ناسته دایره کړي. په حقیقت کې یوه مهمه مسأله چې د دواړو هېوادونو ترمنځ پرې اختلاف شته او په جلساتو کې مطرح شوې هم ده، هغه او ایراني لوري د افغانستان له لوري د اوبو تحویلولو ځرنگوالی دی. د لومړنی صورت جلسې په ۶ بند کې راغلي دي چې ایراني دولت به د ۱۳۵۱هـ ش معاهدې مطابق د قرارداد درېیمې مادې الف او ب بندونو مطابق د حقآبې اخیستلو په برخه کې اقدام کوي.)

د افغانستان له لوري د اوبو تحویلولو ځایونو په لاندې توگه دي:

۱. هغه ځای چې سرحدي کرښه د سیستان رود قطع کوي؛
۲. په دوه نورو ځایونو کې چې د ۵۱ او ۵۲ سرحدي پیلرونو ترمنځ واقع دي او د دریو میاشتو په دننه کې به د کمیسارانو له لوري فاصله تثبیت کېږي چې سرحد د سیند منځ قطع کوي، تعین کېږي او دا دوه نقطې به د دواړو هېوادونو له لوري تصوبیږي.

دا چې افغانستان نه وه توانیدلی د ناامنیو له کبله دهراوود استیشن په تیرو دوه لسیزو کې نصب کړي او ایراني لوري په همدې پلمه د افغانستان تعهدات تر پوښتنې لاندې دی، چې گواکې د معاهدې مطابق حقآبه یې و ایراني لوري ته نه ده ورکړې. دا په داسې حال کې ده چې د نړیوالو تحقیقاتو پر بنسټ ایراني لوري آن تر ۵۰۰۰ میلیون مترمکعب پورې په کلنۍ توگه اوبه اخیستې دي او دا د معاهدې مطابق حقآبې ۶ چنده کېږي. د ایران اسلامي جمهوریت جدي سرغړونه داده چې د هغه نقطې چې باید د معاهدې انفاذ وروسته په ۳ میاشتو کې جوړې شوې وای، تر اوسه نه دي جوړ شوي، بلکې اوبه یې د معاهدې خلاف په مختلفو ځایونو کې ترلاسه کړې دي. په ځینو ناستو کې ایراني لوري غوښتنه کړې چې ټولې اوبه دې د سیستان په نقطه کې ورکړل شي، هغه څه چې د افغان هیئت له لوري په ټینگه رد شوې او د معاهدې خلاف بلل شوې دي.

**6 – د افغانستان داخلي ستونزې او اوبو مسایلو ته نه لومړیتوب ورکول؛**

افغانستان په تیرو ۲ لسیزو کې له بیلابیلو ننگونو سره مخ وه. ناامني، اداري فساد، د قانون نه حاکمیت، د پوله تیریدونکو اوبو مدیریت په اړه د قوي سیاسي ارادې نشتون او داسې نور... همدا ستونزې د دې سبب شوې چې د هلمند ترون تطبیق په برخه کې کوټلي گامونه همغسې چې لازمه وه، وانخیستل شول. د مثال په توگه ایراني لوري کابو په ټولو ناستو کې د دهراوود استیشن د نه جوړېدو ځخه سر تکولی او دا چاره یې د هلمند ترون تطبیق او ایراني لوري د حقآبې اخیستلو په برخه کې لوی خنډ بللی دی. لیکن افغانستان تر وروسته نه وو توانیدلی چې دا استیشن جوړ کړي. افغانستان بالاخره په ۲۰۲۰م کې د دهراوود نصب چارې بشپړې کړې چې د ۲۰۲۱م آگست ۱۵ نیټې تحول په پایله کې اغیزمن شو. همدا مسأله و ایراني لوري ته لویه پلمه شوې چې له خپلو تعهداتو سرغړونه کوي او په حقیقي توگه نه آماده کېږي چې دریو نقطې تعین، تثبیت او د استیشنونو نصب مسأله نهایي شي. افغان مقاماتو په ځلونو په ډاگه کړې چې ایراني لوري له خپلې حقآبې ډېرې اوبه ترلاسه کوي، لیکن ایراني لوري دا مسأله نه مني. په دې حالت کې د اوبو اندازه استیشنونو ته شدیده اړتیا احساسیږي چې او ایراني لوري ته حقآبه منظمه او د معاهدې مطابق تحویل شي.

له بل اړخه د افغانستان په اسنادو کې اوبو مسایلو ته کم ارزښت ورکړل شوی او دې مسألې افغانستان له گاونډیو سره د پوله تیریدونکو اوبو پر سر لمړې ساتلی دی. د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژي چې له ۱۳۸۷هـ ش تر ۱۳۹۱هـ ش پورې په پام کې نیول شوې وه او په هماغه وخت کې د افغانستان پراختیایي موخو لپاره د ۱۵ کلونو لپاره ټاکل شوې وه، که څه هم د دې سند اعتبار موده پای ته رسیدلې او له بل اړخه د نوي نظام په راتگ د هاغې ستراتیژۍ انفاذ وضعیت نه دی معلوم، خو مونږ دلته هغه د نمونې په توگه یادوو. دا ستراتیژي د ۳ موخو، ۸ رکن او ۱۷ سکټورونه رانغاړي. په دې ستراتیژۍ کې د اوبو مسألې ته په کم نظر کتل شوي دي او په ارزښت ورکولو کې لکه څنگه چې پوهیږو د کرهنې سکتور په اوبو متکي دی او د صنعت په شان سکټورونه چې ټول په اوبو متکي دي، له اوبو څخه ډېرې اهمیت لري. د اوبو سرچینو مدیریت د دې ستراتیژۍ درېیم رکن درېیم سکتور گڼل کېږي او همداراز د دې ستراتیژۍ له مخې ځینې سکټورونو ته لومړیتوب ورکړل شوی چې پورتني درجه یې ۱۲۰ ده. له بده مرغه اوبو ته ټیټه درجه ۲۰ درجې په نظر کې نیول شوې ده. په تیرو څو کلونو کې د هماغه ستراتیژۍ پر بنسټ د زراعتي پراختیا، ښارجوړونې، صنعتي پراختیا، کډوالو او راستنیدونکو وگړو لپاره پلان جوړونه د همدې ستراتیژۍ په لید، موخو، ارکانو او سکټورونو په پام کې نیولو سره تدوین شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د زراعتي پراختیا لپاره د اوبو سرچینو ته اړتیا ده، کوم ځای کې چې اوبه نه وي کرهنې ته پراختیا نه شو ورکولای. په بل عبارت کرهنه په اوبو پورې تړلې ده او د اوبو سرچینو مدیریت پر زراعتي هغه مقدم او اصل دی. همداراز کوم ځای کې چې اوبه نه وي نه شو کولای ښارگوټي جوړ کړو او یا کډوالو او راستیدونکي وگړي میشت کړو. نو ځکه په حقیقت کې د دې ټولو پراختیایي چارو لپاره د اوبو سرچینو تدارک او مدیریت ته اړتیا لیدل کېږي، بناء د اوبو مسألې ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

بله جدي ستونزه داده، چې د پوله تیریدونکو اوبو په اړه کوم تقنیني او پالیسي کچ سند نه لرو. د افغانستان اوبو چارو تنظیم قانون کې پوله تیریدونکو اوبو ته په مجمله توگه اشاره شوې. د تیر نظام په وروستیو کې د پوله تیریدونکو اوبو پر پالیسي نهایي کولو چټک کار روان وو چې وروسته د ځینو ستونزو له امله نهایي نشو او تر اوسه هماغسې پاتې دی. د باندنیو چارو وزارت هم د بهرني سیاست په برخه کې اوبه له پامه غورځولې دي، حال دا چې اوبه باید زمونږ د ملي امنیت او بهرني سیاست اړوند یوه مسأله وي.

Ezmir institute of technology
Ehsanullah hayat, ibid,p.45

سخنان عثمانی در ولسی جرگه،نشرشده در پرتال آب افغانستان،۲۰۱۸
آرشیف ریاست حقوق آب- وزارت انرژی و آب، کابل افغانستان.
ماده ۳ بند الف معاهده ۱۳۵۱ آب هلمند بین افغانستان و ایران

Ehsanullah hayat, ibid,p.45.

یحیی حازم، پیشین ص۸
همان

**7 – د ګدو اوبیزو ساختمانونو نشتون او د سرحدي علایمو نه تعین**

یو له هغو ستونزو چې دواړو هېوادونو وخت نا وخت پرې جنجال کړی د هلمند په سیند کې د ایراني حقآبې اخیستلو درېو محلو تعینن، تثبیت او د ګدو او بیزو ستیشنونو نشتون دی چې وکړای شي ایراني لوري ته حقآبه نظام منده او قاعده منده تحویل کړي. لکه څرنګه چې په خپله تړون کې پېشبیني شوي ده او د قرارداد ښه تطبیق او اړوند اختلافاتو د حل او فصل لپاره د کمیسارانو کمیټي وړاندوېنه شوې ده. تر اوسه د کمیسارانو ګډې کمیټې ۲۵ نوبتي ناستې په ایران او افغانستان کې ترسره کړې او بیلابیل مسایل یې تر بحث لاندې نېولې دي. د مثال په توګه ایراني لوري کابو په ټولو ناستو کې د دهراوود استیشن د نه جوړېدو څخه سر ټکولی او دا چاره یې د هلمند تړون تطبیق او ایراني لوري د حقآبې اخیستلو برخه کې لوی خنډ بللی دی. لیکن افغانستان تر وروسته نه وو توانیدلی چې دا استیشن جوړ کړي. افغانستان بالاخره په ۲۰۲۰م کال کې د دهراوود نصب چارې بشپړې کړي چې د ۲۰۲۱م کال آګست ۱۵ نېټې تحول په پایله کې اغیزمن شو. همدا مسأله و ایراني لوري ته لویه پلمه شوې چې له خپلو تعهداتو سرغړونه کوي او په حقیقي توګه نه آماده کیږي چې درېو نقطې تعین، تثبیت او د استیشنونو نصب مسأله نهایي شي. افغان مقاماتو په ځلونو په ډاګه کړې چې ایراني لوري له خپلې حقآبې ډېرې اوبه ترلاسه کوي، لیکن ایراني لوري دا مسأله نه مني. په دې حالت کې د اوبو اندازه کوني استیشنونو ته شدیده اړتیا احساسیږي چې و ایراني لوري ته حقآبه منظمه او د معاهدې مطابق تحویل شي.

د دې ترڅنګ مهمه ستونزه داده چې تر اوسه د معاهدې مطابق د ایراني حقآبې اخیستلو درې ځایونه تعین، تثبیت او په مشترکه توګه جوړ شوي نه دي او نه هم د اوبو اندازه کولو ستیشنونه پکې نصب دي، حال دا چې د معاهدې له مخې دا کار باید په څو میاشتو کې ترسره شوی وای. لیکن ایراني لوري د پلمو په لټولو له خپل دغه تعهد(ژمنې) څخه سرغړونه کوي. سره له دې چې د کمیسارانو په ۲۱ ناسته کې د جدول پر سر موافقه وکړه چې دواړه لوري به په مشخص وخت کې د هلمند تړون تطبیق په مخ کې پراته خندونه لرې کوي. په ځانګړې توګه د درېو محلونو تعین، تثبیت او ګډه جوړونه. د هماغسې ناستې شاه و خوا دوه کاله تیریږي خو ایراني لوري په حقیقي توګه دې ته نه دی آماده شوی. دواړو لورېو یوازې تیر کال وکړای شول چې د ډېرو ستونزو وروسته د هلمند سیند مشترکه سیمه تر ۱۸ کیلومتره پورې سروې او نقشه برابرې کړي. پوټوګرافي نقشې د دواړو لورېو له لوري امضاً شوې او که ایراني لوري قوي اراده ولري کولای شي په آسانه د حقآبې اخیستلو درې ځایونه تثبیت او پرې ګډ ستیشنونه نصب کړي.

ضمناً بله ستونزه چې د هلمند سیند تړون په مخ کې پرته ده هغه د ۵۱ او ۵۲ سرحدي پیلرونو نه تثبیت دی. د سرحدي پیلرونو تعین ځکه مهم دی چې د معاهدې له مخې د ایراني حقآبې دوه ځایونه د همدې پیلرونو په منځ کې جوړ شي. دا موضوع هم کابو په ټولو جلساتو کې یاده شوې او دواړو لورېو یې پر جوړېدا ټینګار کړی. دا موضوع له ایران سره د مدرنیزاسیون پروسې کې چې تر دمګړی یې ۱۰ ناستې شوې دي او ډیری سیمې یې تر پوښښ لاندې راوستلې هم دي، نهایي کیږي. د سرحدي پیلرونو تعین موضوع باید د دواړو لورېو له لوري په جدیت تعقیب شي تر څو د هلمند تړون تطبیق پر وړاندې اساسي ستونزه له منځه ولاړه شي. سره له دې چې په ۲۰ مې ناستې کې هم په دې موضوع ټینګار شوی، خو تر اوسه په دې اړه کوټلې او مؤثر ګامونه نه دي اخیستل شوي.

**8 – د ایران ډېرتوقعات**

معمولا اختلاف په هغو کلونو کې ډیر واقع کیږي چې کال غیر نورمال اوبیز کال وي او کابو د هلمند سیند ښکتنۍ برخه وچه وي. د هلمند اوبو تړون په ډاګه کړې چې په میاشتنۍ توګه څومره مقدار حقآبه باید ایراني لوري ته ورکړل شي او په عین وخت کې یې دا هم بیان کړې چې ایران په نورمال او غیر نومال کلونو کې د خپلې حقآبې څخه د ډېر مقدار اوبو او یا سیلابونو په برخه کې هیڅ حق نه لري او نه اوبه اخیستلای شي. افغان دولت تل ټینګار کړی چې هغه اوبه چې ایراني لوري ته په اورښتي موسمونو کې بهیدلې د ایراني حقآبې څخه ډېرې وي او ایراني لوري یې چاه نیمه او ذخیرو ته منحرفوي تر څو بیا د اړتیا په صورت کې تري ګټه واخلي.

ایراني لوري وایې چې هامون بین المللي ډنډ دی او د طبیعت حقآبه باید د سیاسي، حقوقي او اقتصادي حقآبې په جلا توګه هغه هېواد ته په نظر کې ونېول شي. ځکه چې د هامونونو په وچیدو د سیمې اکوسیستم ته زیان اړوي او د ګرد او غبار شتون سربیره په سیمه کې د خلکو او الوتونکو د کډوالي سبب کیږي. لیکن افغانان اصرار لري چې د ۱۳۵۱ کال تړون په عملي توګه د طبیعت حقآبه هم په نظر کې نیولې ده او ایراني لوري باید حقآبه داسې مدیریت کړي چې وکړای شي هامونونه هم ژوندي وساتي.واقعیت همدادی چې د هلمند اوبو تړون اساسا د دلتا کمیسون راپور پر بنسټ رامنځته شوې او په نوموړي راپور کې د دوی هر ډول حقآبه په نظر کې نېول شوې ده. همداراز کیدای شي د هامونونو مسأله په هغه وخت کې ډیره مهمه نه وه او بل دا چې هامونونه د هلمند سیند برسیره د خاشرود، هاروت رود او فراه رود څخه هم تغذیه کیږي. افغانستان په کلنۍ توګه سلګونو او زرګونو ملیون مترمکعب اوبه د سیلابونو په بڼه دي هامونونو ته ورکوي خو هغه اوبه د ایران له لوري منحرف کیږي او ایران هم خپله د سیند هغه ښاخې چې تالابونه پرې تغذیه کیدل بل لوري ته ګرځولې دي.

**۹ – ابزاري دیپلماسي د هلمند اوبو سیند تړون پر وړاندې د خنډ په توګه**

اوبه نه یوازې د همکارۍ یوه وسیله ده بلکې د منازعې یو کتلست هم کیدای شي. تجربو ښودلې ده چې قدرتمند هېوادونه تل د اوبو څخه د فشار آلې په توګه کار اخلي. له اوبو څخه د ابزاري دیپلماسي په توګه کار اخیستنه په پخوانۍ او کلاسیکه دیپلماسۍ کې ځای لري او قدرتمند هېوادونه تل په دې هڅه کې وو؛ چې څنګه نورې بهرنۍ ستونزو حل د اوبو سره مبادله کړي. دا ستونزې کیدای شي نن په ایران کې د افغان کډوالو حضور او یا افغان تجارتي مالونو تګ او راتګ وي او یا هم د حکومت وسله وال مخالفینو شتون وي. دا ستونزې نن یو څه دي، سبا بل څه او بله ورځ بدلیږي. هره ورځ کیدای شي دا ستونزې ډیرې او وضعیت لا پیچلې کړي. په داسې حال کې چې د اوبو سرچینې محدودې دي، بسنه نه کوي او بې بدیله دي. په سنتي دیپلماسۍ کې د اوبو ماهیت او واقعیت ته هیڅ پام نه کیږي او په هیڅ وخت کې دا ډول لید کې د اوبو جغرافیې، اوبو مقدار، اوبو کیفیت، اوبیزې اړتیاوو باندې تمرکز نه کیږي، بلکه هڅه دا کیږي چې له اوبو څخه د مذاکراتو په میز کې د ابزار په توګه کار واخیستل شي او د دې بې بدیله مادې په وړاندې کولو سره هېوادونه وکړای شي نورې اړتیاوې پوره کړي. دا په داسې حال کې ده، چې تهران په ځلونو تهدید کړی چې که افغان لوري یې حقآبه ورنکړي ایران به افغانستان تر فشار لاندې راولي. د ایران باندنیو چارو وزیر ښاغلي جواد ظریف وویل چې کډوال، سرحدي مراودات او نور مسایل د افغانستان پر وړاندې د فشار اهرم دی. ایران چې ځان په غربي آسیا کې لوی قدرت بولي، له هیڅ ډول مؤجه دلیل پرته افغانستان تهدیدوي. د هلمند اوبو تړون د ایران سهمیه مشخصه کړې چې په نورمال اوبیز کال کې به ایران کابو ۸۲۰ میلیون مترمکعب اوبه اخلي او دا په داسې حال کې ده، چې ایران په ځینو کلونو کې تر ۵۰۰۰ میلیون مترمکعب اوبو پورې اخیستې دي. په بل عبارت د خپلې حقآبې ۶ چنده اوبه یې ترلاسه کړې دي.

---

صورت جلسه ۲۰ کمیساران آب هلمند، کابل، ۲۲ جوزا، ۱۳۹۸

بذرپور، فرزانه، افغانستان و ایران؛ هیرمند روی میز،۱۳۹۷، ۲۷ حمل، ناروی

د افغان صدراعظم محمد موسی شفیق او ایراني سیال امیر عباس هوایدا ترمنځ امضا شوې تړون ټول حقوقي او قانون مراحل طی کړي دي او یو بین المللي سند ګڼل کیږي. افغانستان دا بین المللي سند په یو اړخیزه توګه نه دی لغوه کړی چې تهران یې تهدیدوي. که چیرې په دې وروستیو کلونو کې ایراني لوري ته کم مقدار بهیري د اقلیمي تغیراتو زیربنده ده او بل دا چې د کمال خان بند جوړېدو را وروسته د دوی حقآبې مقدار د تړون مطابق دی ځکه چې د پخوا پشان پرېمانه اوبه نه شي اخیستلای.

دا یوازې د ایران پخوانی بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف نه دی، چې دا ډول غیر دیپلماتیکې او تهدید آمیزه څرګندونې کوي بلکې وخت په وخت د ایراني چارواکو له لوري دا مسأله راپورته کیږي. دا چاره د دوه هېوادونو ترمنځ د اړیکو ښه والي سره هیڅ مرسته نه کوي. تهران په دیپلماتیکي تعارفاتو کې افغانستان تل داسې یادوي چې ګواکې ګډ تاریخ، ارزښتونه، ژبه او ډېر مشترکات سره لري، که څه هم په دې مسأله کې شک نشته لیکن په سیاست جوړونه کې هیڅ ایراني مقام دې مسألې ته پاملرنه نه کوي او هغوی حتی خپل ګاونډي او د ډیرو مشترکاتو درلودونکی هېواد تهدیدوي.

دا په داسې حال کې ده، چې دواړه هېوادونه د بیلابیلو مشترکاتو په درلودلو سره ډېرې ګټې لري او دواړه خواوې باید د ګډو ګټو او حسن همجواري ته په پام خپلې اړیکې پراخې کړي او د اوبو سرچینو څخه د ښو اړیکو پراختیا وسیلې په توګه کار واخلي نه د فشار او تنازع ابزار په توګه.

**پایله**

افغانستان او ایران شاه وخوا ۳۵ کیلومتره ګډ اوبيز سرحد لري چې له ۱۸۷۰ میلادي کال راهیسې د هلمند سیند اوبو حقوقي وضعیت په اړه دواړه لوري سره اختلاف درلود او بالاخره دا اختلاف په ۱۳۵۱ هجري لمریز کې د دوه هېوادونو ترمنځ د حقوقي تړون رامنځته کیدو پرمټ پای وموند. نوموړی تړون د هېوادونو صدراعظمانو (افغان صدراعظم مرحوم محمد موسی شفیق او ایراني سیال یې امیر عباس هوایدا) ترمنځ امضا، د پارلمانونو له لوري تصویب او اسناد یې په ۱۳۵۶هش کې مبادله شول. د هلمند سیند حقوقي وضعیت د همدې تړون پر بنسټ تعریف او تشخیص شوی او له بل اړخه د همدې تړون تطبیق او اختلافاتو ته د رسیده ګۍ په پار د کمیسارانو ګډه کمیته پیشبیني شوې ده چې دې کمیټې په افغانستان کې د بې ثباتیو په وجه څو لسیزې ناستې ونه شوې کړای او په پای کې یې لومړنۍ ناسته په ۲۰۰۴ میلادي کال تهران کې ترسره کړه. تر اوسه ۲۵ پنځه ویشت ناستې په نوبتي شکل (افغانستان او ایران) کې ترسره شوي دي او بیلابیل مسایل یې تر بحث لاندې نیولي دي.

که څه هم له تیرو شاه خوا ۱۸ کلونو راهیسې د دواړو خواوو ترمنځ د تړون تطبیق په برخه کې ډېر بحثونه او پریکړې شوي دي، لیکن تر اوسه هم له بده مرغه دا تړون بشپړ تطبیق شوی نه دی. د دې تړون بشپړ پلي کیدو پر وړاندې ننګونې شتون لري، چې د نمونې په توګه مو اقلیمي بدلونونه، د افغانستان داخلي ستونزې او بې ثباتي، د دواړو هېوادونو ترمنځ بې اعتمادي او سیاسي ستونزې، د ګډو اوبيزو تأسیساتو نشتون، د اوبو څخه ابزاري دیپلماسي په توګه کار اخیستل، د افغانستان نامتوازن پرمختګ د ګاونډیو په پرتله، د اوبو تحویلولو څرنګوالی او ... یې د یادولو دي. د دې ستونزو حل لپاره وړاندیز کیږي چې اړخونه دې په نورو برخو کې خپلې اړیکې پراخې کړي، موجوده بې اعتمادي له منځه یوسي، هایدرولوژیکي آمار او ارقام دې سره شریک کړي او له اوبو څخه دې د ابزارې دیپلماسی په توګه ګټه نه اخیستل کیږي او د حسن همجوارۍ او ګډو منافعو ته په پام دې اقدام وکړي.

له بل اړخه د هلمند ۱۳۵۱هش کال تړون د افغانستان او ایران ترمنځ امضاء شوی او د هېوادونو پارلمانونو له لوري یې اسناد تصویب شوي چې په ۱۳۵۶هش کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ مبادله شول. هیڅ ډول قانوني نواقص نه لري او دواړه خواوې باید ورته متعهد پاتې شي. د ۱۳۵۱هش کال د هلمند اوبو تړون په کامله توګه له بین المللي حقوقي قواعدو سره سازګاري لري او هیڅ ډول حقوقي ستونزه نه لري. د دې معاهدې نقض بین المللي مسؤلیت له ځان سره لري چې ایراني لوري د دې اړخه کیدای شي مسؤل وپیژندل شي. دا مسؤلیت جبران خسارت هم له ځان سره لري.

**وړاندېزونه:**

۱- د اوبو حوزې پوهان په دې آند دي چې اوبه په بالقوه توګه د همکارۍ پراختیا وسیله کیدای شي او هم د منازعاتو رامنځته کیدو ابزار په توګه تري ګټه اخیستلای شي. په همدې اساس ضروري ده، چې افغانستان او ایران د هلمند اوبه د تړون مطابق په داسې ښه مدیریت کړي، چې د ښو اړیکو رامنځته کولو سربیره د سولې او ثبات پراختیا وسیله شي.

۲-ایران او افغانستان باید خپلې اقتصادي او تجارتي اړیکو ته پراختیا ورکړي تر څو دا چاره د اوبيزو همکاریو پراختیا وسیله شي او دواړو لوري وکړای شي ستونزې یوې خوا او همکاري وغځوي؛

۳-د نړیوالو معیاري اصولو او د ۱۹۹۷م کال کنوانسیون وړاندوینې شوې قواعد باید د پوله تیریدونکو اوبو کلي او لارښودیز اصولو په توګه په پام کې ونیول شي؛

۴-افغان لوری باید د دهراوود استیشن هغه سنسر چې د تحول په پایله کې اغیزمن شوی، جوړ او هم ایراني لوري د دریو نقطو جوړولو برخه لازم ګامونه واخلي.

۵-د نورو هېوادونو ګټمنو تجاربو څخه ګټه اخیستل چې په ګډو سیندیزو حوزو کې تري استفاده کیږي، مهمه موضوع ده. د مثال په توګه د اختلافاتو حل موډلونه، توافق نامې او معاهدات، هایدرولوژیکي او مترولوژیکي اطلاعاتو تبادله، نظارتي تأسیسات او جوړښتونه. دا چاره د اختلافاتو حل په برخه کې مهم او اغیزمن ګام ګڼل کیږي.

۱- هامونونه او ګودزرې د دواړو هېوادونو ګډ طبیعي بشري میراث دی چې وچیدل یې چاپیریالیز بحران زیږوي او ناوړه اقتصادي، چاپیریالي، اجتماعي او ایکولوژیکي پایلې لري. بناء پکار ده، چې د احیا لپاره یې لارې چارې ولټول شي او ایراني لوري د هامونونه اوبه پریږدي، منحرفې یې نه کړي. ایراني لوري باید د هلمند سیند خپل اصلي مسیر ته راوګرځوي تر څو هامونونه احیا او چاپیریالیزه پراختیا رامنځته شي.

۲-د دواړو هېوادونو ترمنځ اوبيزې همکاري کیدای شي په سیمه کې د سولې او ثبات پراختیا سره مرسته وکړي او که خدای مکړه تري غفلت کیږي دا چاره به نه جبرانیدونکې زیانونه له ځان سره ولري.

۳-د نړیوالو حقوقو پر بنسټ د هلمند اوبو تړون یو معتبر او الزامي حقوقي سند دی چې دواړه لوري باید د نوموړي سند په چوکاټ کې خپل مسؤلیتونه اجرا کړي او د ښه نیت او حسن همجواري له مخې اختلافاتو ته سوله ایزه حل لار وموي.

۴-ایران باید د هلمند اوبو سیند څخه په بې رویه توګه ګټه اخیستنه ودروي تر څو توقعات یې کنټرول او د طرفینو ترمنځ اعتماد جوړونې فضا مساعده شي.

۵- اوبه باید د سولې او نیکو اړیکو پراختیا وسیله شي. په همدې موخه له اوبو څخه ابزاري دیپلماسی په توګه ګټه اخیستل مناسب عمل نه دی او د فشار وسیلې په توګه باید تري کار وانه اخیستل شي.

۶-افغانستان یو وروسته پاتې هېواد دی او تازه د پراختیا ګامونه اخلي. د تیرو څو لسیزو بې ثباتیو له کبله نه ده توانیدلي چې له خپلو اوبيزو سرچینو څخه د هېواد په سوکالۍ او بیارغونه کې مؤثره ګټه واخلي، په دې اساس دا هېواد د نړیوالو حقوقو پر بنسټ حق لري، چې له پوله تیریدونکو اوبو څخه د ټولنې پراختیا لپآره ګټنه وکړي او ایران باید د افغانستان دا مشروع حق په رسمیت وپیژني.

۷-ایراني لوري دې د خپلې ټاکل شوې حقآبې څخه د ډېرو اوبو توقع ونه لري.

۸-هایدرولوژیکي آمار او ارقام باید د دواړو هېوادونو له لوري مبادله شي تر څو له مخې یې نورمال او غیر نورمال کال وړاندوېنه وشي او د ایران حقآبه نظام منده شي.

---

حازم، یحیی، پیشین، ص۷

زورګویی و قلدری ایرانی ها، هشت صبح، ۷ سنبله ۱۳۹۷. برای جزیات بیشتر به لینک ذیل مراجعه کنید:https://afghanwaters.net/wp-content/uploads/2018/10/ زورگویی-و-قلدری-ایرانی‌ها-هشت-صبح

Ehsnaullah hayat, ibid.p45.

د اوبو او انرژي فصلنامه
بوولسم کال اتلسمه گڼه، د ۱۴۰۱هـ ش کال لمړی ربع چې د ۱۴۴۳ هـ- ق کال سره سمون لري

# ننگرهار ولایت ته د افغانستان د اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ملا عبداللطیف منصور کاري سفر



د اوبو او انرژی محترم وزیر ملا عبداللطیف منصور ننگرهار ولایت ته تشریف راوړی وو.
لومړی د ننگرهار سیندیزې فرعي حوزې ته راغلو او د سیندیزې فرعي حوزې په مقر کې یې د یاد ریاست له پرسونل سره ناسته وکړه.

دغه ناسته د قران کریم په تلاوت سره پیل شوه ورپسې د سیندیزې فرعي حوزې رئیس الحاج سید فضل احد هاشمي وزیر صیب او راغلو میلمنو ته ښه راغلاست وویل او د ننگرهار فرعي حوزې په رابطه یې هر اړخیزه معلومات شریک کړل په لاسته راوړنو او مشکلاتو یې تفصیلي وینا وکړه.

دکارمندانو په نماینده گي د اوبو د تنظیم امر محترم مولوی سید محمد صادق هاشمي خبرې وکړې.

ورپسې د اوبو او انرژي محترم وزیر د اوبو او انرژي وزارت په بودیجه او ۱٤۰۱ کال په تشکیل وغږیده ، همدارنگه یې د وزارت اړوند مسایلو او خپل کاري سفر په اړه وینا وکړه.

تر غرمې وروسته یې د ننگرهار سیندیزې حوزې په ریاست کې د PMS جاپان موسسې له مسؤلینو سره ناسته وکړه پدې ناسته کې د ننگرهار سیندیزې فرعي حوزې رئیس الحاج سید فضل احد هاشمي هم حضور درلوده د PMS په نماینده گي استاد دیدار مشتاق خبرې وکړې د خپلو روانو پروژو او راتلونکې په هکله یې معلومات ورکړل ورپسې د اوبو او انرژي محترم وزیر خبرې وکړې د پروژو د ښه تطبیق او همغږۍ په اړه یې پوره ډاډ ورکړ او فیصله وشوه، چې ساحې ته لاړ شو او کارونه له نږدې وکتل شي.

تر دې وروسته محترم وزیر صیب چې د سیندیزې فرعي حوزې رئیس هم ورسره ملگری وو د ننگرهار ولایت مقام ته تشریف یوړه د یاد ولایت د مرستیال والي مولوي رباني سره یې ولیدل وزیر صیب ورسره د اوبو او انرژي وزارت راتلونکې پلانونه شریک کړل او د کارونو په همغږۍ یې ټینگار وکړ.
د دې څخه وروسته محترم وزیر صیب د ننگرهار ولایت مرستیال والي د سیندیزې فرعي حوزې رئیس اوتخنیکي ټیم خیوې ولسوالي ته سفر وکړ د PMS د پروژو لکه مروارید۱کانال، برکاشکوت امیرانو سربندونو او کانالونو او تربیوي مرکز څخه یې لیدنه وکړه.
او د ماښام د لمانځه وروسته بیرته سیندیزې حوزې ته راستون شو او خپل کاري سفر یې پای ته ورساوه.

# نوزدهمین جلسه تخنیکی معینیت آب وزارت آب و انرژی برگزار گردید



این جلسه تحت ریاست محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده، معین آب و زارت آب و انرژی با اشتراک روئسای مرکزی سکتور آب و محترم داکتر غلام فاروق اعظم مشاور وزارت برگزار شد.

در این جلسه، فیصله گردید که معلومات پروژه های که از وزارت زراعت به وزارت آب و انرژی انتقال یافته خواسته شود.

در این جلسه تخنیکی، رئیس آب های سطحی طی پرزینتیشنی پیرامون ارقام ستیشن های آب در سطح کشور، چگونگی جمع آوری ارقام آب از ستیشن ها، اقسام جریان اندازه گیری آب، کیفیت معلومات ستیشن هاو همچنان پیرامون حفظ و مراقبت ستیشن ها به اشتراک کنندگان جلسه معلومات همه جانبه ارایه نمود.

معین آب و زارت آب و انرژی در این جلسه به منظور پیشبرد بهتر امور به روئسا هدایات لازم تخنیکی داده افزود، که تمام روئسا پلان ریاست های شان را طی پرزینتیشنی در جلسه تخنیکی هفته وار به اشتراک کنندگان ارایه نمایند.

# د اوبو او انرژي وزارت سلاکار  پۀ افغانستان کې د ملگرو ملتونو سازمان د دفتر (UNAMA) لۀ سرپرست‌سره پۀ لیدنه  کې د اوبو او انرژي پروژو د پلي کیدو پۀ برخه کې د همکاري غوښتنه وکړه



د اوبو او انرژي وزارت سلاکار ښاغلي ډاکټر غلام فاروق اعظم د یوناما د دفتر له سرپرست ښاغلي اسکاټ اسمیټ سره لیدنه وکړه او د اوبو او انرژي پروژو د پلي کیدو پۀ برخه کې یې د گډو همکاریو پۀ هکله بحث او د نظر تبادله وکړه.

پۀ دغه لیدنه کې، د اوبو او انرژي وزارت سلاکار د اوبو څخه د اغیزمنې استفادې او بریښنا انرژي ته د نه لاسرسي پۀ برخه کې د خلکو د ستونزو پۀ اړه خبرې وکړې او پۀ دې برخه کې یې د دغې ادارې د همکاري غوښتنه وکړه.

ښاغلي اعظم پۀ دغه لیدنه کې د یوناما د دفتر لۀ سرپرست څخه وغوښتل، ترڅو د اوبو د کوچنیو پروژو لکه د کاریزونو پاکولو، د اوبو لگولو کانالونو بیارغونه، پۀ کلیو کې د سیلابونو د کنټرل پروژو پلي کولو، کلیو ته د لمریزې بریښنا برابرولو، د کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپاره د سړوخونو (Cool storage) جوړولو او د کرنیزو محصولاتو د ودې لپاره د گلخانو (Green house) رامنځته کولو کې د اوبو او انرژي وزارت سره همکاري وکړي.

پۀ ورته وخت کې، ښاغلي اسکاټ اسمیټ د اوبو او انرژي وزارت سلاکار ته د اوبو کوچنیو پروژو د مدیریت او د انرژي د تولید پۀ برخه کې د همکاري ډاډ ورکړ؛ او د دې همکاري پۀ ترسره کولو کې یې ژمنه وکړه.

د یادولو وړده، چې پۀ پای کې دواړو لورو د عملي اقداماتو د پیل لپاره پر لا زیاتې همغږي باندې ټینگار وکړ.

# د دعوت او ارشاد ریاست لهٔ خوا " د اسلام او سیاست" تر سرلیک لاندې تربیتي ناسته ترسره شوه



دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت د دعوت و ارشاد ریاست د رئیس ښاغلي مولوي ګل الرحمن عارف تر مشرۍ لاندې د اداري، کنټرول کیفیت او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاستونو د کارکوونکو په ګډون ترسره شوه.

په دغه پروګرام کې، د اوبو او انرژي وزارت د دعوت و ارشاد رئیس ښاغلي مولوي ګل الرحمن عارف د اسلام او سیاست په هکله هر اړخیزه وینا وکړه او زیاته یې کړه، چې دین او سیاست سره بیل نه بلکې د یو بل لازم او ملزوم دي او د اسلام سپیڅلی دین یې په دنیا او آخرت کې د انسانانو د بریالیتوب یواځنی لاره و بلله.

د دعوت و ارشاد رئیس د دې ناستې د ترسره کولو موخه د اوبو او انرژي وزارت د کارمندانو د دیني معلوماتو لوړول وبلل او زیاته یې کړه، چې د اسلام سپیڅلی دین د هرې ستونزې د هوارولو لپاره د حل لاره لري او د اسلام سپیڅلي دین باندې په تکیه کولو سره کولای شو چې د ژوند ټولې ستونزې هوارې کړو.

په ورته وخت کې، د اوبو او انرژي وزارت د اداري ریاست رئیس ښاغلي مولوي حمیدالله دلاور په دغه تربیتي ناسته کې په اسلام کې د حلال او حرام او قصاص په هکله خبرې و کړې او دعوت او ارشاد یې د هر مسلمان دنده وبلله او زیاته یې کړه، هر کله چې مسلمان د منکراتو سره مخامخ شي باید د هغه څخه مخنیوی وکړي.

ښاغلي دلاور د مسلمانانو ترمنځ پر یوالي باندې ټینګار وکړ او ویې ویل چې مسلمانان دې سمتي، ژبني او قومي مسایلو ته لمن ونه وهي.هغه دې مسایلو ته لمن وهل د اسلام د دښمنانو کار و باله.

د یادولو وړ ده، چې دا پروګرام په دوامداره توګه د اوبو او انرژي وزارت کې د دې وزارت د کارمندانو د دیني معلوماتو د لوړولو لپاره ترسره کیږي.

---

# رئیس عمومی حوزه دریایی کابل به منظور حفظ و مراقبت از بندهای کلان در ولایت های غزنی و پکتیکا دیدار کرد.




محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال، رئیس عمومی حوزه دریایی کابل، محترم انجنیر ضیا، رئیس عمومی خدمات انجنیری، محترم محبوب الله آفاق،رئیس حفظ و مراقبت همراه با هیئت تخنیکی طی سفری سه روز به منظور تنظیم بهتر امور و حفظ و مراقبت از بندهای کلان به ولایت های غزنی و پکتیکا به روئسای حوزه های دریایی و بندهای کلان دیدار نمودند.

تیم متذکره در قدم نخست در هماهنگی با محترم مولوی اسدالله منصوری، رئیس آب های ایستاده حوزه فرعی دریایی غزنی با محترم مولوی محمد اسحق، والی ولایت غزنی دیدار نموده سپس، از امور ریاست متذکره دیدار نمود و از بندهای سلطان، سردی و زنخان دیدار نمودند.

در قدم دوم، در هماهنگی با محترم قاری فتح الله ذاکر، رئیس حوزه فرعی دریایی گومل پکتیکا با والی ولایت پکتیکا دیدار نموده سپس، از امور ریاست متذکره و پروژه بند پلتو نیز دیدار کردند.

# جلسه رهبری معینیت انرژی به منظور هماهنگی بیشتر ریاست ها در تطبیق امور مربوطه این معینیت برگزار شد

این جلسه تحت رهبری محترم مولوی عارف الله عارف معین انرژی وزارت آب و انرژی با حضور تمام روسا و شماری از مسئولین تخنیکی سکتور انرژی برگزار گردید.

در این جلسه ، گزارش اجراآت فیصله جلسه رهبری هفته قبلی معینیت، مبنی بر حل مشکلات مالی واداری زون های انرژی، ایجاد کمیته هماهنگی با سرمایه گذاران و سایر موضوعات مربوطه مورد بررسی قرار گرفت.

در ادامه این جلسه، روی موضوعات مختلف تخنیکی و اداری در بخش انرژی بحث و تبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم جهت اجراآت آن اتخاذ گردید.

محترم معین انرژی پس از بررسی مفصل موضوعات مطرح در این جلسه هدایات لازم را به مسئولین مربوطه داد.



قابل یادآوری است که جلسات رهبری معینیت انرژی در هر هفته یکبار برگزار شده در آن روی مهم ترین موضوعات بحث و تبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم به منظور انجام اقدامات ضروری اتخاذ می گردد.

---

# د اوبو معینیت د رهبري غونډه د روانوچارو د وضعیت د ارزونې، د ستونزو د هوارولو او د همغږي د ښهٔ والي پهٔ موخه جوړه شوه

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معینیت د رهبري ناسته د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د اوبو او انرژي وزارت سلاکار ښاغلي ډاکټر غلام فاروق اعظم او د اوبو سکتور مرکزي رئیسانو پهٔ شتون د تخنیکي کړنو د څېړنې، د چارو د بهیر د څېړلو، دستونزو هوارولو او د چارو د لا ښهٔ انسجام پهٔ موخه ترسره شوه.

پهٔ دې ناسته کې د سیند د غاړو څخه د ودانیزو موادو د غیر قانوني استخراج، د قرغې پهٔ بند کې د اوبو د کمښت لهٔ امله د کبانو د ساتنې، د کجکي بند د دویم فاز د کار د پرمختګ او یو شمېر نورو اداري او تخنیکي مسایلو پهٔ اړه بحث او خبرې وشوې.

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر اخندزاده پهٔ دې ناسته کې د یادو شویو ستونزو لهٔ هر اړخیزې ارزونې وروسته د ستونزو د حل او



د چارو د لا ښه پرمختګ پهٔ موخه لازمې تخنیکي لارښوونې وکړې.

# جلسه هماهنگی و جذب سرمایه‌گذاری در مورد انتقال آب پنجشیر به کابل و چگونگی توزیع جواز به شرکت‌های تصفیه کننده آب برگزار گردید



این جلسه تحت ریاست محترم انجنیر عبدالغفورعمری، رئیس عمومی تنظیم امور آب وزارت آب و انرژی، شماری از روئسای این وزارت میان نمایندگان وزارت صنعت و تجارت، وزارت صحت عامه و شاروالی کابل در وزارت آب و انرژی برگزار شد.

در این جلسه، پیرامون چگونگی انتقال آب دریای پنجشیر به کابل، چگونگی توزیع جواز به شرکت‌های تصفیه کننده آب و تمدید جواز شرکت‌های تصفیه کننده آب میان نمایندگان وزارت آب و انرژی و نمایندگان وزارت تجارت و صنعت، وزارت صحت عامه و شاروالی کابل بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم انجنیرعبدالغفور عمری، رئیس عمومی تنظیم امور آب وزارت آب و انرژی و محترم انجنیر فایزالرحمن عزیزی، رئیس منابع آب این وزارت در پیوند به سطح آب های زیر زمینی در کابل معلومات همه جانبه ارایه نموده و همچنان در پیوند به توزیع جواز به شرکت‌های تصفیه کننده آب به شکل کوتاه مدت و دراز مدت صحبت نمودند.

در آخـــر این جلـــسه فیصله گردید تا با شـــرکت‌های که خواهان سرمایه‌گذاری در بخش تصفیه آب هستند، جلسه مشترک با اشتراک نمایندگان وزارت آب و انرژی، وزارت تجارت وصنعت، وزارت صحت عامه و شاروالی کابل برگزار گردد.

---

# د هرات ولایت انجیل ویالې استنادي دیوال پروژه پرانیستل شوه



د لاندني هریرود سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي مولوي سردار ولي مزمل د هرات ولایت انجیل ویالې د استنادي دیوال پروژه چې یو کیلو متر اوږدوالی او درې متره سور لري، د پرانیستې په غونډه کې ګډون وکړ.

د دې پروژې په پلي کیدو سره د موسمي سیلابونو څخه مخنیوی کیږي او ښه فضا به رامنځته شي.

دا پروژه د څهٔ باندې ۱۲۵ زره ډالرو په ارښت د UNDP دفتر په مالي مرسته د لاندني هریرود سیندیزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې پرمخ وړل کیږي.

# د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا د تولید کمېټې دویمه غونډه ترسره شوه

دغه غونډه د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور" پۀ مشرۍ چې د دغه وزارت یو شمیر رئیسانو او د اقتصاد وزارت معین، د عدلیې وزارت معین، د صنعت او سوداگرۍ وزارت ،د کانونو او پټرولیم وزارت، د چاپېریال ساتنې ملي ادارې، د افغانستان بانک، د افغانستان برېښنا شرکت، د معادن او صنایعو خونې، د سوداگرۍ او پانگونې خونې د استازو پۀ گډون د اوبو او انرژۍ پۀ وزارت کې ترسره شوه.



پۀ یاده ناسته کې، د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا د تولید د کمېټې د جوړښت او کړنلارې ، د سهامي شرکت د جوړښت، د ډبرو سکرو د پلورلو د بیې په ټاکلو، د ډبرو له سکرو سرچینو څخه د برېښنا د تعرفې پۀ ټاکلو، د فابریکو لپاره د مشخصو ځایونو د جوړولو ، د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا تولید، پانگوالو ته د آسانتیاوو برابرولو او یو شمېر نورو اداري او تخنیکي موضوعاتو باندې بحث او د نظر تبادله وشوه.

د غونډې پۀ پای کې پریکړه وشوه ، چې د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا د تولید د عملي چارو د چټکتیا پۀ موخه دې یوه گډه تخنیکي کمېټه د اوبو او انرژۍ وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د صنعت او سوداگرۍ وزارت ، د افغانستان برېښنا شرکت، د چارو ادارې د پانگونې د آسانتیاوو واحد او د ځمکو ریاست څخه جوړه شي.

د یادولو وړ ده، چې د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا د تولید کمېټه د افغانستان د اسلامي امارت د اقتصادي کمیسیون د رهبرۍ د هدایت پۀ اساس جوړه شوې ده، چې مشري یې د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور" پۀ غاړه ده؛ او د صنعت او سوداگرۍ وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، اقتصاد وزارت، عدلیې وزارت، د صنعت او سوداگرۍ وزارت ، د چاپېریال ساتنې ملي اداره، د معادن او صنایعو خونه، د افغانستان برېښنا شرکت، د پانگونې د آسانتیاوو اداره او د افغانستان بانک، د دې کمیټې غړي دي او دا د ډبرو لۀ سکرو څخه د برېښنا د تولید د کمیټې دویمه غونډه ده، چې د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست وزیر پۀ مشرۍ جوړېږي.

---

# برای ترمیم و باز سازی کانال عمومی ولایت پروان اقدام صورت خواهد گرفت

کانال عمومی پروژه پروان ۲۴ کیلومتر طول دارد و دارای ظرفیت ۲۷ مترمکعب فی ثانیه بوده که ساحه ۲۴۸۰۰هکتار زمین را تحت آبیاری قرار می‌دهد که به نسبت ازدیاد آب در کانال در ساحه ناویا قریه گلبهار ولسوالی جبل السراج بازوی چپ کانال درز و شکستگی پیدا نموده است که باید به زودی جلو ریزش و چکاوه آب گرفته شود تا از تخریب کانال و سرازیر شدن آب که باعث تخریب ساحات زراعتی صد ها هکتار زمین و منازل مسکونی در آن محل میگردد جلوگیری صورت گیرد.



رئیس حوزه فرعی دریایی غوربند چاریکار همراه با تیم تخنیکی از انجنیران جهت باز دید از ساحه روانه محل گردید بعد از مشاهده ساحه هدایات لازم به تیم همراه و هیات محترم مربوط داده شد تا هر چه زودتر در زمینه اجراات نمایند.

## د پولي تخنیک پوهنتون یو شمېر محصلین چې د خپلو عملي زده کړو دوره یې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو سرچینو پهٔ عمومي ریاست کې بشپړه کړې وه د یاد ریاست لهٔ خوا وستایل شول



د پولي تخنیک پوهنتون ۹ تنو محصلینو چې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو سرچینو عمومي ریاست کې د لس ورځو په موده کې خپلې عملي زده کړې بشپړې کړې وې او په دې روزنیزه دوره کې ښهٔ فعالیتونه ترسره کړي وو، د یاد ریاست لهٔ خوا ورته ستاینلیکونه ورکړل شوو.

پهٔ هغه غونډه کې چې پهٔ همدې موخه جوړه شوې وه د مطبوعاتو او نشراتو رئیس ښاغلي الحاج غلام جیلاني "حق پرست" ، د اوبو سرچینو عمومي رئیس ښاغلي انجنیر فایزالرحمن "عزیزي" او د څمکي لاندې اوبو سرچینو رئیس ښاغلي انجنیر عزیزالرحمن "عزیز " هر یوه په خپل وار سره زده کړیالان د وطن خدمت ته وهڅول.

ښاغلي" حق پرست" پهٔ دغه ناسته کې، د علم د ارزښت او د هغه د پلي کیدو او عملي کیدو پهٔ اړه خبرې وکړې او یادونه یې وکړه، چې پهٔ اوسنیو شرایطو کې د هېواد د آبادي او پراختیا پهٔ لاره کې هڅه زمونږ ټولو ملي او ایماني دنده ده او دې لوړې موخې ته د رسیدو لپاره لازمه ده، چې د افغانستان ټول خلک یو بل ته لاس سره ورکړي او مثبت او اغیزمن گامونه واخلي.

د اوبو سرچینو عمــــومي رئیـــــس ښاغلي "عزیزي" پهٔ ورځني ډول د اوبو سرچینو کموالي د موضوع پهٔ هکله خبرې وکړې او ټینگار یي وکړ، چې د اوبو سرچینې مدیریت ته اړتیا لري او دا د افغانستان د ټولو خلکو مسؤلیت دی پهٔ ځانگړي ډول د هغو کسانو دنده ده چې روزنه یې لیدلې ده .

همدارنگه د څمکي لاندې اوبو سرچینو رئیس ښاغلي عزیز الرحمن "عزیز" پهٔ خپل وار سره محصلین د هېواد خدمت ته وهڅول او د اوبو د مدیریت پهٔ برخه کې یې د علمي څېړنو پهٔ ترسره کولو کې د هر راز همکاري ډاډ ورکړ.

---

## بیش از ۲۰ تن محصلان پوهنځی انجنیری هایدروتخنیک پوهنتون بلخ دوره آموزش عملی و نظری شان‌را در حوزه دریایی شمال به پایان رساندند



ریاست عمومی حوزه دریائی شمال به ادامهٔ همکاری‌های قبلی خویش با پوهنتون بلخ، این بار به تعداد (۲۹) تن از محصلین پوهنځی انجنیری هایدروتخنیک پوهنتون بلخ را به شکل گروپی آموزش عملی (پرکتیکی) و نظری را با رهنمایی تیم تخنیکی انجنیران آمریت منابع آب و آمریت تنظیم امور آب به وجه احسن به اتمام رسانیدند.

در این دوره پرکتیک، به محصلین پوهنځي انجنیری هایدروتخنیک بر علاوه معلومات درباره ایجاد و اهداف حوزه های دریایی در افغانستان ، در مورد تعداد حوزه های فرعی در سمت شمال معلومات داده شد.

همچنان در رابطه به کارکرد ها و شیوه های نظارت از امور تخنیکی و دیزاین ساختمان های هایدروتخنیکی و مدیریت همه جانبه منابع آب از جمله تعداد استیشن‌های هایدرولوژیکی ، اخذ ارقام از استیشن‌ها ، درباره مقدار جریان اعظمی و اصغری دریا های موجود سمت شمال، مقدار بارندگی سالانه و همچنان در باره تنظیم امور آب ، از جمله رفع منازعات آبی و جلوگیری از آن، مقدار و اهمیت حقابه ها در کانال‌هاومسایل مختلف تطبیق پروژه های هایدروتخنیکی معلومات کافی برای شان داده شد.

در اخیر محصلین پوهنتون بلخ از همکاری رهبری حوزه عمومی دریایی شمال قدردانی نمودند.

# د کاپیسا ولایت پهٔ سیندیزه فرعي حوزه کې د ۱۴۰۱ مالي کال د لمړۍ ربعې د کړنو د ارزونې پهٔ موخه د همغږۍ ناسته ترسره شوه

دا ناسته، د کاپیسا ولایت د فرعي سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي انجنیر کاوه خروش تر مشري لاندې د یاد ریاست د ټولو کارمندانو پهٔ گډون جوړه شوه.

پهٔ دغه ناسته کې، د یادې سیندیزې فرعي حوزې ټولو اړوندو مسؤلینو د خپلو درې میاشتنیو کړنو راپورونه د یادې فرعي سیندیزې حوزې رئیس ته وړاندې کړل.

د کاپیسا فرعي سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي انجنیر کاوه خروش د مسؤلینو د کاري راپور تر څېړلو وروسته، پهٔ هېواد کې د اوبو د مدیریت د اهمیت پهٔ هکله خبرې وکړې او د اړوندو مسؤلینو څخه یې و غوښتل، چې د اوبو سرچینو د کمیدلو پر طرحې، د وچکالی د کړکیچ د مدیریت او د اوبو سرچینو ارقامو د راټولولو باندې خپل کارونه چټک کړي او خپل کاري راپور ژر تر ژره د کابل عمومي سیندیزې حوزې او د وزارت لهٔ مقام سره شریک کړي.

همدارنگه پهٔ دغه ناسته کې، پهٔ تگاب ولسوالي کې د وروستیو پنځهٔ سروې شویو پروژو ( یو کانال- دوه کاریزه- دوه کوچني ذخیروي بندونو) پهٔ هکله خبرې وشوي او ټینگار وشو چې د ریاست تخنیکي تیم ژر تر ژره پروژې سروې کړې او خپل کاري راپور دې مرکز ته ولیږي.



پهٔ پای کې، د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د عالي مقام د هدایت سره سم، د امیرالمومنین حفظ الله د عالي مقام هدایات چې ۱۴ مادې پکې شاملې دي، کارمندانو ته ولوستل شوو او ټولو کارمندانو د یادو مادو د عملي کولو لپاره خپله ژمنتیا وښوده.

---

# رئیس حوزه فرعی دریایی پکتیا با بزرگان قومی منطقه کوهسین ولسوالی سید کرم جلسه برگزار نمود

مولوی محمد کریم فاتح رئیس ریاست حوزه فرعی دریایی پکتیا نشستی را با بزرگان قومی منطقه کوهسین ولسوالی سیدکرم به منظور استماع و حل مشکلات آنها برگزار کرد.

در جلسه متذکره بزرگان قومی مشکلات موجود در ارتباط به آب در منطقه خویش را شریک نموده همچنان در قسمت پیشنهادات اعمار اساسی بند ذخیروی آب دوشنی در منطقه تاکید کرد.

آقای فاتح به بزرگان قومی خوش آمدید گفته مشکلات و خواست های آنها را بجا دانسته و به هدف اجراآت در این راستا به شعبات مربوطه هدایات لازم را ارایه کرد، نامبرده در سخن های خود گفت '' کشور ما بالای ما حق دارد تا آن را باز سازی کنیم، و به صورت مشترک آن را آباد نماییم''



همچنان در بخش مربوطه خویش به بزرگان قومی از انجام هرگونه همکاری اطمینان داد.

# رئیس عمومی حوزه دریایی شمال از سربند نهر شاهی بازدید نمود



محترم عبدالحکیم حاجی حکمت ، رئیس عمومی حوزه دریایی شمال و تیم تخنیکی شان همراه با شماری از کارمندان حوزه فرعی دریایی بلخ از ساختمان‌های سربند نهر شاهی و مسیر کانال مذکور و از ریاست تصدی کود و برق مزار شریف بازدید نمودند.

در جریان بازدید این سربند، رئیس عمومی حوزه دریایی شمال به مسولین این سربند هدایت داد که در قسمت حفظ و مراقبت سربند و تجهیزات آن توجه جدی نمایند.

سربند نهر شاهی موازی ۷۱۰ هکتار زمین را آبیاری می‌نماید. طول کانال این سربند ۴.۳ کیلومتر بوده و مقدار جریان عادی کانال ۴ متر مکعب در هرثانیه و آب اعظمی آن ۸ متر مکعب فی ثانیه می‌باشد.

در همین حال، رئیس عمومی حوزه دریایی شمال با رئیس تصدی کود برق مزار شریف نیز دیدار نموده و پیرامون موضوعات مختلف از جمله آب ستیشن، تولید، و عاید سالانه فابریکه صحبت همه جانبه نمود.

محترم قاری خالد، رئیس تصدی کود برق مزار شریف در دیدار با رئیس عمومی حوزه دریایی شمال گفت که عاید ناخالص تولید کود فابریکه در ۲۴ ساعت، ۷ میلیون افغانی می‌باشد و این فابریکه دارای ۴ توربین حرارتی بوده که مصارف برق فابریکه و ساحه رهایشی را تامین میکند.

# د پنج آمو سندېزې حوزې عمومي رئیس د سویډن کمېټې لهٔ رئیس سره د خپل کار پهٔ دفتر کې ناسته ترسره کړه



د پنج آمو سندېزې حوزې عمومي رئیس انجنیر رفیع الله مجتبیٰ د سویډن کمېټې لهٔ رئیس انجنیر مسعود شریفي سره د خپل کار پهٔ دفتر کې ناسته وکړه.

د ناستې پهٔ پیل کې د یادې حوزې عمومي رئیس راغلو میلمنو ته ښهٔ راغلاست وویل؛ او د پراختیایي پروژو پهٔ اړه یې معلومات وړاندې کړل، او زیاته یې کړه، چې د اوبو اړوند ټولې پروژې د پنج آمو سندیزې حوزې پورې اړه لري.

او وروسته بیا د سویډن کمیټې رئیس انجنیر شریفي د خپلو کړنو پهٔ اړه وضاحت وړاندې کړ، او زیاته یې کړه، چې د سویډن کمیټې دفتر پهٔ علي آباد والسوالي کې یو کانال چې د تخریب پهٔ حالت کې دی، یاد کانال چې ۲۷ کیلو متره اوږدوالی لري، د سربند غاړې چې ۱۳۰ متره ساحه یې پهٔ ( RCC )ډول ، او پاتې برخه یې چې تخریب شوې پهٔ اساسي ډول جوړ شي چې ټول لګښت یې شاوخوا ۱۱ میلیونه افغانیو ته رسیږي.

یاد کانال د علي آباد ولسوالي پهٔ لاله میدان ساحه کې موقعیت لري، چې شاوخوا د لس کلیو خلکو ته اوبه رسوي.

د یادولو وړ ده، چې د یادې پروژې مالي لګښت د (UNDP)موسیسې لخوا ورکول کېږي.

# لهٔ پنجشیر څخه کابل ته د اوبو د لېږد پهٔ پروژه کې د پانګونې د جلبولو پهٔ موخه د اړوندو ادارو لهٔ استازو سره د همغږي ناسته ترسره شوه



دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت د اوبو سکتور د رئیسانو او مسؤلینو، د کرنې، صنعت او سوداګري، عامې روغتیا وزارتونو او د کابل ښاروالي د استازو پهٔ ګډون د اوبو معینیت د غونډو پهٔ تالار کې جوړه شوه.

پهٔ یاده ناسته کې، د کابل ښار د اوبو د سرچینو د مدیریت لپاره د لازمو حل لارو پهٔ ځانګړي ډول د پنجشیر څخه کابل ته د اوبو د لېږد پهٔ پروژه کې د پانګونې د جلبولو پهٔ هکله بحث او د نظر تبادله وشوه.

همدارنګه د اوبو او انرژي وزارت مسؤلینو د ناستې پهٔ بهیر کې د یادې پروژې د موخو او اهمیت پهٔ هکله خبرې وکړې، د لازمو اقداماتو پهٔ عملي کولو او د ادارو ترمنځ یې پر لا زیاتو همغږیو باندې ټینګار وکړ.

د یادولو وړ ده، چې څهٔ موده وړاندې هم پهٔ همدې موخه ناسته شوې وه ، چې پکې پهٔ کابل کې د ځمکې لاندې اوبو د سرچینو پر وضعیت او د هغې د مدیریت لپاره د لازمو حل لارو پر پیداکولو باندې بحث او د نظر تبادله شوې وه.

---

# د پکتیا سیندیزې فرعي حوزې ریاست اداري غونډه ترسره شوه.



د پکتیا سیندیزې فرعي حوزې ریاست د چارو د لا ښهٔ پرمخ وړلو او د ښې همغږي او همکاري پهٔ موخه اداري غونډه ترسره کړه.

پهٔ یاده غونډه کې، د پکتیا سیندیزې فرعي حوزې رئیس ښاغلي مولوي محمد کریم فاتح د تېرې غونډې د پرېکړو لهٔ تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو پهٔ موخه د اړونده څانګو ترسره کړو کړنو راپور واورېد. هغه د غونډې پهٔ اجندا کې په نیول شویو موضوعاتو باندې هر اړخیز بحث وکړ؛ او لهٔ ګډونوالو سره پهٔ ګډه یې یو لړ پرېکړې وکړې. ښاغلي فاتح د خپلو خبرو په دوام کې د پلان په ترتیبولو باندې ټینګار وکړ.

# د دعوت او ارشاد اصلاحي او روزنيز نصاب غونډه د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معين په حضور کې جوړه شوه



د تېرو غونډو د لړۍ په تعقیب، د دعوت او ارشاد رياست اصلاحي او روزنېزه غونډه د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معين ښاغلي مولوي عارف الله عارف او د دغه وزارت د دعوت او ارشاد رئيس ښاغلي مولوي گل الرحمن عارف په حضور کې جوړه شوه.

په دې غـونـډه کـې چـې نن چهارشنبه د ۱۴۴۳/۱۱/۱۵ د اوبو او انرژي وزارت په عمومي تالار کې جوړه شوې وه، د دغه وزارت د انرژي سکتور يو شمېر رئيسانو او کارمندانو په دې غونډه کې گډون کړی و.

په دې غونډه کې د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معين ښاغلي مولوي عارف الله عارف په لنډه توگه د اسلام تاريخ ته اشاره وکړه؛ او اسلام يې يو بشپړ دين وباله؛ چې ټول منظم سياسي، اقتصادي او ټولنيز پروگرامونه پکې شامل دي.

ښاغلي مولوي عارف وويل چې پيغمبر(ص) ويلي دي" دنيا لعنت شوې ده( دنيا د ډاډ او بريا حقيقي ځای نه ده) او هر هغه څه چې په دنيا کې دي [ مگر د خدای(ج) ياد او هر هغه څهٔ چې د خدای ياد ته نږدې دي او د پوهې لار او د پوهې غوښتنه".

ښاغلي مولوي عارف قرآن کريم د انسانانو تر ټولو غوره اساسي قانون وباله او زياته يې کړه: ټول هغه قوانين چې د انسانانو لهٔ خوا جوړ شوي دي، که د قرآن او نبوي احاديثو پر بنسټ نه وي، نو د خدای او رسول صلی الله عليه وسلم له خوا څخه مردود دي.

همدارنگه د انرژي معين پهٔ خپلو خبرو کې ټولې برياوې د خدای(ج) لهٔ خوا و بللې او زياته يې کړه، چې خدای تعالی پهٔ دې قادر دی، چې يو کوچنی ملت پهٔ ډېرو باطلو قومونو باندې برلاسی کړي او د دې بريا وسايل چمتو کړي.

پهٔ پای کې مولوی عارف الله عارف ټولو کارمندانو ته د تقوا، عدالت او ايمانداري سپارښتنه وکړه؛ او ټول کارمندان يې د قرآن کريم او نبوي احاديثو درسونو ته وهڅول.

# د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین د پکتیکا ولایت لهٔ مشرانو سره وکتل

د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده د پکتیکا ولایت لهٔ یو شمېر مشرانو سره وکتل او پهٔ هغه ولایت کې د اوبو پروژو د مدیریت پهٔ هکله یې خبرې ورسره وکړې.



پهٔ دغه لیدنه کې، د پکتیکا ولایت مشرانو خپل وړاندیزونه او ستونزې د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو لهٔ معین سره شریکې کړې او پهٔ یاد ولایت کې یې د اوبو پروژو د مدیریت غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده د پکتیکا ولایت مشرانو ته د همکاري ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه : " مونږ پلان لرو چې په نږدې راتلونکي کې د افغانستان ټولو ولایتونو ته سفر وکړو او د اړتیا وړ پروژې سروې کړو".

هغه زیاته کړه، چې د دې پلان سره سم د پکتیکا ولایت پروژې هم لهٔ نږدې څخه تر څېړنې لاندې نیول کیږي او د وزارت د تخنیکي ټیم لهٔ خوا به سروې شي.

---

# جلسه هماهنگی بین ادارات ذیربط در مورد حل مشکلات منابع آبی استفاده کنندگان آب برگزار شد

این جلسه به منظور هماهنگی در مورد حل مشکلات منابع آبی و ایجاد برنامه های مشخص جهت استفاده درست و معقول از منابع آب با حضور شماری از روسای وزارت آب و انرژی، وزارت صنعت و تجارت و تعدادی از نمایندگان شرکت های آبرسانی برگزار گردید.



در این جلسه پیرامون بررسی تعداد دقیق شرکت های آبرسانی در پارک های صنعتی، تخمین حجم آب مورد نیاز شرکت ها، ترتیب تفاهمنامه بین وزارت آب وانرژی و وزارت صنعت و تجارت به منظور تامین آب پارک های صنعتی، بحث پیرامون جلب سرمایه گذاری در پروژه انتقال آب از دریای پنجشیر به کابل و ترتیب برنامه های آگاهی دهی جهت صرفه جویی در مصرف آب برای مستفیدین رهایشی و تجارتی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در جریان جلسه وضعیت منابع آب شهر کابل مورد بررسی قرار گرفته با در نظرداشت کاهش روز افزون منابع آب همه اشتراک کنندگان به ایجاد هماهنگی لازم و ترتیب برنامه های مشخص جهت صرفه جویی و مدیریت بهتر منابع آب تاکید ورزیدند.

## د افغانستان د هایدرولوژي ملي کمیټې سره د همغږي غونډه جوړه شوه



دغه غونډه د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده په مشري د افغانستان د هایدرولوژي د ملي کمیټې د رئیس په مشري د پوهنتونونو د استادانو او یو شمیر چارواکو په گډون د کمیټې د ټولو غړو په شتون کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې د وردگو څخه تر گذرگاه پورې د اوبو پر سرچینو د اقلیم د بدلون د اغیزو په اړه د څیړنې پروژې وروستی راپور چې د کمیټې د غړو لهٔ خوا ترتیب شوی و، وارزول شو.

په دې غونډه کې د یونسکو د فتر ته د پروپوزل په اړه هم خبرې وشوې او لازم تصمیمونه ونیول شول.

د غونډې په ترځ کې ښاغلي معین د کمیټې غړو ته د اوبو او انرژي وزارت د رهبري د اوبو د مدیریت په چارو کې د همکاري ډاډ ورکړ او د لا ښهٔ پرمختگ لپاره یې لازمې لارښوونې وکړې.

## جلسه به منظور هماهنگی بهتر امور کانال قوش تیپه در ریاست عمومی تنظیم امور آب برگزار شد



این جلسه، به شمول محترم داکتر غلام فاروق اعظم، مشاور وزارت آب و انرژی، روئسای مختلف ریاست‌ها، مشاوران و متخصصین برگزار گردید.

در این جلسه، پیرامون جوانب مختلف کانال قوش تیپه ( حقوقی، سیاسی، تخنیکی، اقتصادی و اجتماعی) مورد ارزیابی قرار گرفت و بر هماهنگی و همکاری با اداره های ذیربط دیگر تاکید شد.

## د پایداري انرژي رئیس د یوهٔ خصوصي شرکت د لمریزي انرژي لهٔ پروژې څخه لیدنه وکړه



د اوبو او انرژي وزارت د پایداري انرژی رئیس ښاغلي مؤمن بسمل او ور سره مل تخنیکي تیم د دارالامان په ساحه کې د یو خصوصي شرکت د لمریزي انرژي لهٔ پروژې څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي بسمل د لمریزي انرژي د Distributedجنریشن د ملاتړ په خاطر د یاد شرکت مسؤلینو ته د هغوی د ستونزو د هوارولو په پار د هر راز همکاري ژمنه وکړه.

اوبهٔ، د لوی خدای نعمت دی، نو موږ او تاسو ته پکار ده، چې د اوبو پهٔ استعمال کې اسراف ونه کړو، اوبهٔ، د یو هېواد د آبادی نښه ده، اوبهٔ، د چاپیریال یو مهم او اړین عنصر دی، چې د ژوندیو موجوداتو پهٔ ځانګړې ډول د انسانانو د ژوند لپاره خورا ډېر اهمیت لري. یعنې د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند پهٔ اوبو پورې تړلی دی. نو ځکه د اسلام مبارک دین هم انسانان د اوبو پهٔ ساتلو او د اسراف څخه پهٔ مخنیوي مکلف کړي دي ـ

د قران پهٔ سورة الملك کې راغلي دي: قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ (سورة الملك۳۰) یعني ته ورته ووایه که ستاسو اوبهٔ، لاندې ولاړې شي څوک به تاسو ته بهېدونکې او لیدونکې اوبهٔ، راوړي. پهٔ ښکاره توګه لهٔ دې ایت نه معلومولی شو چې که اوبهٔ، لاندي ولاړې شي بیرته ترلاسه کول یې اسانه نه بلکې ډېر سخت کار ده، او بل دا چې شوني ده اوبهٔ، لاندي ولاړې شي.

بل ځای پهٔ سورت اعراف کې الله تعالی ج فرمائي:

ژباړه: خورئ، څښئ او لهٔ حد څخه تیری مه کوئ الله ج تر حد تیری کوونکي نه خوښوي. نو د اوبو پهٔ استعمال کې تیری کول هم د الله تعالی د ناخوښی سبب ګرځي.

همدارنګه بې له اړتیا د اوبو د ضایع کولو پهٔ اړه حدیث شریف دی:

(أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ ، فَقَالَ : مَا هَذَا السَّرَفُ ؟ فَقَالَ : أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ.) (ابن ماجة : ۴۱۹)

ژباړه : رسول الله صل الله علیه وسلم سعد رض ولید چې هغه اودس کوي نبي ع ورته وفرمایل دا څنګه اسراف دی; حضرت سعد رض ورته وویل چې پهٔ اوداسه کې هم اسراف وي؟ رسول الله ورته وفرمایل چې هو پهٔ، دې کښې هم اسراف دی که څهٔ هم ته د بهیدونکي لښتي پر غاړه اودس کوې.

درنوهېوادوالو! د اوبو پهٔ استعمال کې لهٔ اسراف څخه ځانونه وساتئ،او هڅه وکړئ، د اوبو لهٔ بې ځایه او لهٔ اړتیا زیات مصرف کولو څخه ډډه وکړئ.

# اوبه او انرژي

**Islamic Emirate of Afghanistan**
**Ministry of Energy and Water**



نمای زیبا از فاز دوم بند کجکی